وروى عبدالله بن عمر رضى الله تعالى عنهما أن النبيّ صلى الله عليه وسلم ،قال:«السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ حَقٌّ مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِالْمَعْصِيَةِ، فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ، فَلاَ سَمْعَ وَلاَ طَاعَةَ» صحيح البخاري (٤/ ٤٩).

وروى عليّ رضى الله تعالى عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:«لاَ طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةٍ، إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي المَعْرُوفِ» صحيح البخاري (٩/ ٨٨).

والثاني:أن يكون امتثال الأمر في استطاعة المأمور ،وأن لا يُكلف فوق طاقته،فانّه ظلم ،ولذلک يقول عبدالله بن عمر رضى الله عنهما:قال : كنَّا إذا بايَعنا رسول الله – صلى الله عليه وسلم – على السَّمع والطَّاعة يقول لنا : « فيما استطعت – أو قال : استَطَعْتُم ».اتَّفقَ الستة على إخراجه. جامع الأصول من أحاديث الرسول (ص: ٤٧).

ومن ذلک حديث عبدالله عمر رضى الله عنهما الذى ذكرناه سابقا ومن بايع اماما فأعطاه صفقة يده وثمرة قلبه،فليطعه ما استطاع » سنن النسائي .

ومن هنا وضع الفقهاء القاعدة المعروفة « تصرف الامام بالرعية منوط بالمصلحة»

راجع :الاشباه والنظائر لابن نجيم:١/ ١٢٣)والمادة ٥٨ من مجلة الاحكام العدلية.

(قانون ګمرکات) وايي، دغه دواړه قانونان په عموم کي دماليې او ګمرک څخه بحث کوي.

دا چي د کابينې ۱۴۴۳ هق د ۸ مياشتي د۱۸ غونډې د ۲۸ مصوبې د**۵** بند په اساس او د اميرالمؤمنين–حفظه الله تعالى – د (۹) فرمان د دوهمي (۲) مادې د پنځم (**۵**) بند د تعميل په موخه دوزارت ماليه د مقام په سپارښتنه په وزارت ماليه کي د علماؤ او مفتيانو يوه مشترکه کمېټه جوړه سوه ، تر څو په وزارت ماليه کي پر موجوده قوانينو تجديد نظر وکړي ، او وخت ته په کتو مناسب تعديلات په قوانينو کي وکړي ، موږ هم په دې کميټه کي دعضويت په حيث د شرعي څېړنې مسؤوليت په غاړه لاره ، نو دا مو په ځان لازمه وبلله چي کوم ځاى کي قانون د شريعت مخالف وي ، موږ به يې د رد دلائل ليکو ، او که مخالف نه و ، او خلګو شکوک درلودل نو بيا به د قانون سره د مستند شرعي تر عنوان لاندي د هغه د مشروعيت دلائل راجمعه کوو ، تر څو د خلګو شکوک رفع سي ، او د دغه قانون تعميل ته ژمن سي ، نو مخکي تردې چي موږ دغه قانونان شروع کړو، مناسبه مو دځان لپاره وبلله چي په لنډ ډول د ماليې ، ګمرک يا ټيکس په مشروعيت او عدم مشروعيت بحث وکړو، تر څو د نوموړي قانونان لپاره د شرعي مستند حيثيت خپل کړي.

اوس به راسو دې خبري ته چي پر (عايدات د ماليات و) قانون يا د (ګمرکاتو قانون) په عموم کي له ماليې يا محصول څخه بحث کوي ، نو دغه قانونان په دوه قسمه موادو مشتمل دى.

اول قسم: هغه اداري مواد دي چي زموږ بحث تر هغه ډير تعلق نه لري، ځکه هر وزير او مامور په خپل ځای کي د امير وکيل دي، لکه: قاضي نو وکالت خو په شريعت مقدسه کي تقييد او تخصيص قبلوي، (١) نو همدا ډول هره اداره تقييد او تخصيص قبلوي، نو د ټول بناء په مصلحت تقييدات دي، چي د هغه چا لخوا وضع سوي چي د امام له طرفه په تقنين (قانون جوړول) کي بالواسطه وکيلان دي.

دوهم قسم: هغه مواد دي چي تر ماليې يا ټيکس پوري تعلق لري، يعني: د هغې د اندازې او طريقې د تحصيل او د تضمين څخه بحث کوي، د هغه ټولو موادو لپاره لومړی دا ضروري ده، چي د ګمرک ياد ماليې اخيستلو جواز، يا نه جواز ثابت کړو، ځکه دغه ټول امور د ماليې تر ثبوت پوري موقوف دي، که موږ ووايو چي د وخت امير ماليه اخيستلای سي نو بيا د ده په امر او خبره سره، واجب دَين پر خلګو کيږي، چي په نه ورکړه کي ورسره د مدين مماطل (هغه پوروړی چي

١ - وفي درر الحكام في شرح مجلة الأحكام - (٤ / ٥٩٧).

وتتفرع على كون القاضي وكيلا على الوجه المشروح ثلاث مسائل: إن الوكالة تتقيد و تتخصص كما هو مذكور في المادة ١٤٥٦ والقضاء يتقيد و يتخصص.

تر مدين مماطل پوري خو ډيري مسألې او خبرې تعلق لري، چي دلته يې څېړل او د هغو څخه بحث کول غير ممکن کار دی، او بل بيا خپل مقصود راڅخه پاته کيږي، خو دومره به ووايو چي که مدين مماطل وسعه او طاقت ولري، خو بيا هم خپل پور نه ادا کوي، نو د وخت امام او آمير کولای سي چي د ده څخه دغه پور په زوره واخلي، او دا ظلم نه بلل کيږي.

پور پر وخت نه ادا کوي) معامله کیږي (۱) ، نو بناءً اول د مالیې ،ګمرک یا ټیکس له اخیستلو او شرائطو بحث کوو،بیابه هغه بله خبره ځېږو .

۱ -و في «الموسوعة الفقهية الكويتية» (۳۸/ ۱۱۸) «حَمْل الْمَدِينِ الْمُمَاطِل عَلَى الْوَفَاءِ».

نَصَّ الْفُقَهَاءُ عَلَى طُرُقٍ تُتَّبَعُ لِحَمْل الْمَدِينِ الْمُمَاطِل عَلَى الْوَفَاءِ، مِنْهَا:

أ - قَضَاءُ الْحَاكِمِ دَيْنَهُ مِنْ مَالِهِ جَبْرًا:

۹ - إِذَا كَانَ لِلْمَدِينِ الْمُمَاطِل مَالٌ مِنْ جَنْسِ الْحَقِّ الَّذِي عَلَيْهِ ، فَإِنَّ الْحَاكِمَ يَسْتَوْفِيهِ جَبْرًا عَنْهُ ، وَيَدْفَعُهُ لِلدَّائِنِ إِنْصَافًا لَهُ ، جَاءَ فِي الْفَتَاوَى الْهِنْدِيَّةِ : الْمَحْبُوسُ فِي الدَّيْنِ إِذَا امْتَنَعَ عَنْ قَضَاءِ الدَّيْنِ وَلَهُ مَالٌ فَإِنْ كَانَ مَالُهُ مِنْ جِنْسِ الدَّيْنِ ، بِأَنْ كَانَ مَالُهُ دَرَاهِمَ وَالدَّيْنُ دَرَاهِمُ ، فَالْقَاضِي يَقْضِي دَيْنَهُ مِنْ دَرَاهِمِهِ بِلَا خِلَافٍ».

الفتاوى الهندية ۳ / ٤١٩».

د بحث ټګلاره :

دا بحث په یوې مقدمې او دوو مطالبو او یوې خاتمې مشتمل دی.

- مقدمه : د مالیې، ګمرک او محصول قانوني تعریف او تشریح.
- اول مطلب : د مالیې او محصول حکم د قرآن کریم او احدیثو په رڼا کې

دغه مطلب بیا په خپل کور کښې څو برخې لري.

- هغه دلائل چې د ټیکس پر حرمت دلالت کوي.
- اول دلیل.
- دوم دلیل.
- دریم دلیل.
- څلورم دلیل.
- پنځم دلیل.
- د ټیکس او دهغه د وصول کونکي، په هکله د محدثینو او فقهاوو فتوی.
- تطبیق او موافقه.
- د مسلمان په مال کې له زکات پرته بل حق هم لازمېدلای سي؟
- دوهم مطلب : د مالیې اقسام.
  - اول قسم مالیه.
  - دویم قسم مالیه.

دا بیا په خپل کورکښې پر دوه قسمه ده .

- جُعل.
- الضَرِيبة.

د مالیاتو په اړه د نړۍ د معتبرو علمي تحقیقاتو نظرونه .

◈ خاتمه : چي په نتیجه او پر دغه لاندي شیانو باندي مشتمله ده .

- داوسنۍ مالیې یوه نمونه:
- د کتونکو څخه پوښتنې او سؤالونه ؟
- د پورته خبرو د تائید لپاره د مرکزي دارالافتاء فتوی.
- المصادر والمراجع.
- فهرست الموضوعات.

مــقـــد مـــه:

موږ بايد و وايو چې ، دلته د دغه موضوع متعلق په عامه پښتو کې څلور الفاظ استعماليږي "محصول"، "ټيکس"، "ګمرک" او "ماليه".

که په څه هم په حقيقت کې ، د دغه ټولو فقهي حکم يو دی ،يعني: په فقه حنفي کې چې د جواز او عدم جواز کوم حکم دی ، هغه ټولو ته يو قسم متوجه دی، خو بيا هم موږ بايد کوشش وکړو چې حتی وسعه د هر يوه ځانته ځانته تعريف وکړو ، د دې لپاره چې دغه خبره ښه واضح سي .

د ټيکس تعريف (پېژند نه).

په عربي ژبه کې ټيکس ته " مکس" ويل کيږي، او دا ټيکس وصول کولو والا ته " ماکس" يا "عشّار" ويل کيږي، امام نووي – رحمه الله تعالی – د ټيکس په تعريف کې وايې:

«قَالَ أَهْلُ اللُّغَةِ الْمُمَاكَسَةُ هِيَ الْمُكَالَمَةُ فِي النَّقْصِ مِنَ الثَّمَنِ وَأَصْلُهَا النَّقْصُ وَمِنْهُ مَكْسُ الظَّالِمِ وَهُوَ مَا يَنْتَقِصُهُ وَيَأْخُذُهُ مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ».

ژباړه: د لغتو ماهرينو ويلي دي :چې مماکسه،دا خبري اتري کول دي د مال کمولو لپاره ، او د هغه څخه ظالمانه ټيکس مراد دی ، چې د خلکو څخه د هغه مال ليږ کړي او د هغو څخه يې واخلي(۱).

۱-« شرح النووي على مسلم» (۱۱/ ۳۱). (بَاب بَيْعِ الْبَعِيرِ وَاسْتِثْنَاءِ رُكُوبِهِ فِيهِ) ط: بيروت

همدارنګه علامه محمد أشرف الصديقي العظيم آبادي (ت ۱۳۲۹هـ) فرمايي:

«وَفِي شَرْحِ السُّنَّةِ أَرَادَ بِصَاحِبِ الْمَكْسِ الَّذِي يَأْخُذُ مِنَ التُّجَّارِ إِذَا مَرُّوا مَكْسًا بِاسْمِ الْعُشْرِ».

ژباړه: د «صاحب المکس» څخه مراد هغه سړی دی، کوم چي د هغه تجارانو څخه، کله چي پر دوی تیریږي په ناجائزه طریقه، پیسې اخلي د "عشر" په نامه.(۱).

همدارنګه علامه محمد بن علي الشوکاني اليمني (ت ۱۲۵۰هـ) فرمايي:

«(صَاحِبُ مَكْسٍ) بِفَتْحِ الْمِيمِ وَسُكُونِ الْكَافِ بَعْدَهَا مُهْمَلَةٌ: هُوَ مَنْ يَتَوَلَّى الضَّرَائِبَ الَّتِي تُؤْخَذُ مِنْ النَّاسِ بِغَيْرِ حَقٍّ. قَالَ فِي الْقَامُوسِ: مَكَسَ فِي الْبَيْعِ يَمْكِسُ إِذَا جَبَى مَالًا وَالْمَكْسُ: النَّقْصُ وَالظُّلْمُ، وَدَرَاهِمُ كَانَتْ تُؤْخَذُ مِنْ بَائِعِي السِّلَعِ فِي الْأَسْوَاقِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَوْ دِرْهَمٌ كَانَ يَأْخُذُهُ الْمُصَدِّقُ بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنْ الصَّدَقَةِ انْتَهَى».

ژباړه: ټیکس (د میم په فتحه او د کاف په سکون سره) دا دی چې د دغه لسمي حصې متولي جوړ سي، کوم چې له خلکو څخه يې ناحقه اخلي.

په قاموس کې وايي: چې په تجارت کې مکس دا دی چې پر هغه باندي ټیکس وضع کړي چې کله مال وصول کړي، او ټیکس په اصل کې کمي (نقصان) او ظلم کول دی، او ټیکس په اصل کې هغه دراهم دي چې د جاهلیت په زمانه کې په بازارو کې د بائع (خرڅونکي) د سامان څخه اخیستل کېدل، یا هغه دراهم دي کوم چې صدقه اخیستلو والا چې مکمل د صدقه اخیستلو څخه د فارغه کېدلو بعده وصولول(۲).

۱-«عون المعبود وحاشية ابن القيم» (۸/ ۱۱۱).

۲-«نيل الأوطار» (۷/ ۱۳۲).

همدارنګه علامه عبد الرؤوف المناوي القاهري (ت ۱۰۳۱هـ) فرمايي:

«(والعشار) بالتشديد أي المكاس ويقال العاشر والعشور المكوس وهذا وعيد شديد يفيد أن المكس من أكبر الكبائر وأفجر الفجور ووجه استثنائهما أن الزانية سعت في إفساد الإنسان واختلاط المياه والمكاس قد قهر الخلق بأخذ ما ليس عليهم جبرا».

ژباړه: او «عشار» په شد سره يعني: مکاس، او هغه ته عاشور او عشور المکوس هم ويل کيږي، او دا شديده وعيده فائده ورکوي چې (د مسلمانانو څخه) ټيکس اخيستل د اکبرالکبائر او بدترينه ګناهو څخه دي، او د دغو دواړو (يعني زانيه او عشار) د استثناء وجه دا ده چې زانيه د انسان د خرابولو او د نسب د اختلاط کوشش کوي، او مکاس (ټيکس اخيستلو والا) په حقيقت کې پر مخلوق (انسانانو) باندي د هغو په مال کې جبرا (په زور) ظلم کوي، هغه شی (يعني: ټيکس) وضع کول کوم چې پر دوی وضع نه دی(۱).

د ماليې قانوني تعريف:

هغه وجوه دي چي د دولت د ماليې بنې د تقويې او د عامه مصارفو د تامين په منظور له حقيقي او حکمي اشخاصو څخه د متقابل خدمت له ترسره کولو يا هغو ته د جنس له وړاندي کولو پرته د دې قانون له حکمونو سره سم اخيستل کيږي(۲).

---

۱ -«فيض القدير» (۲/ ۳۰۰).

۲ -مسوده تعديل شده قانون ماليات برعايدات:(۶).

توضیح : مالیه عبارت ده له هغه مال څخه چي دولت يې بلا عوض د دوو اجتماعي امورو لپاره له خلګو څخه اجباري اخلي :

۱-د دولت د مالي برخي د تقويې لپاره (د بيت‌المال د تقويې لپاره).

۲-د عامه مصارفو لپاره (د عام‌المنفعه امورو د ودانولو لپاره).

نو ماليه يا ماليات په اسانه طريقه داسي تعريف کولای شو:

<u>ماليات</u>: د سلنې په اساس نغدې روپۍ دي؛ چې الزاما يې ټول وړ کسان پر ته له مشخص او مستقيم بديل څخه د يوه منظم او قانوني ترتيب له لارې د دولت خزانې ته ورکوي. ترڅو دولت وکولای شي خپله کلنۍ بوديجه له دې او نورو لارو تياره او د رعيت د هوساينې لپاره عامه خدمات په ښه توګه وړاندې کړي.

امام غزالي -رحمه‌الله تعالی- همداسي تعريف ته اشاره کړې ده، هغه ليکلي دي:

"ما يوظفه الإمام على الأغنياء بما يراه كافيا عند خلو بيت المال من المال"(۱).

---

۱ - شفاء الغليل في بيان الشبه و المخيل و مسالک التعليل (ص ۲۳۶).

دګمرک تعریف:

ګمرک له هغې دولتي ادارې څخه عبارت دی چې صـادراتي ،وارداتي ، ترانزیتي مالونه ، دمسافرینومحموله، د مؤظفینو محموله او پستي پارسلونه د ګمرکي تقنیني سندونو مطابق اجراء او کنترولوي.(۱).(۲).

توضیح: حکومت دوه قسـمه ټیکس له عوامو څخه اخلي ،یو هغه منصـافانه ټیکس او ګمرک دی چې دهغه په اسلام کې هم کنجائش سته مثلاً : د اوبو ، برق ، سړک ، پارک ، روغتون، او نور... په بدل کې چې کوم ګمرک کې محصـول اخلي ، نو موږ یې وینو چې دهغـه فـائده بیرته موږ ته راځي؛ بل غیر عادلانه او نا واجب ګمرکي محصـول دی ، چې یو کس پـه خواري او محنت سـره مـال کټلی وي ، او بیـا ورڅخه د اجتماعي مفاد او ګټو دپاره پـه سلو کې څه حصه په ناروا اخلي .

---

۱ -ګمرکي او مالي قوانین «۳۳۲».

۲- وفي «مجلة الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة» (۲۰/ ۱۱۵).

« ضريبة العشور وهي الرسوم الجمركية التي تؤخذ على الصادر من البلاد الإسلامية والوارد إليها».

اول مطلب :

د محصول حکم د قرآن کریم او ا حادیثو په رڼا کي:

د مسلمان په مال کې اصل حرمت (حراموالی) دی، پرته له شرعي دلیل او موجب نه هیڅ چا ته روا او جائز نه ده چې د یوه مسلمان مال له هغه څخه دهغه بې اجازې اورضاء واخلي او استعمال یې کړي، الله تعالی –جل جلاله– فرمایې : ﴿وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾(۱).

ژباړه : او مه خورئ ! مالونه خپل (چې واقع دی) په مینځو د تاسو کښې په ناحقه سره او مه رسوئ ! دا مال تر حاکمانو پوري له پاره د دې چې وخورئ (تاسي په دي رسولو سره) یوڅه له مالو د خلګو ځني په ظلم (ناحقه سره) او تاسي پوهیږئ (چې دا ظلم دی)(۲).

او الله تعالی –جل جلاله– بل ځای بیا فرمایې :

{ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا } **(۳).**

---

۱ –[البقرة : ۱۸۸].

۲ –تفسیر کابلی :(۱/ ۱۴۳).

۳ –[النساء : ۲۹]

ژباړه : ای هغو کســانو چي ایمان یې راوړی دی (یعني : ای مؤمنانو!) مه خورئ تاسي ! مالونه د یو بل په منځونو خپلو کښي په ناروا سره ! مګر (خورئ یې) که وي دا (مالونه چي خورئ یې اول د) تجارت (چي صادروي) په خوښي سره له تاسو نه .

او مه وژنئ تاسي سره ځانونه خپل (یعني : یو بل یا مه کوئ تاسي هغه کار چي ستاسي د هلاک سبب وي) بېشکه چي الله تعالی دی پر تاسي باندي ډېر مهربان (د اجر او ثواب په انعام سره)(۱).

همدا رنګه رسول‌الله –صلی الله علیه وسلم– فرمایي : « فَإِنَّ أَمْوَالَكُمْ ، وَ أَعْرَاضَكُمْ ، وَ دِمَاءَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ ، كَيَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا ، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا »(۲).

همدارنګه فرمایي : «لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ مِنْ مَالِ أَخِيهِ شَيْءٌ إِلَّا بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ »(۳).

بناءاً د پورتنيو نصوصو په رڼا کې افراد او حکومت دواړه حق نه لري ، چې د بل مسلمان مال پرته له شرعي موجب او دلیل نه ترې واخلي ،او استعمال یې کړي ،دا په اسلامي شریعت کې یو منل شوی اصل او ښکاره خبره ده .

---

۱ –تفسیر کابلی (۱/ ۴۶۰)

۲ – أخرجه الطبراني في «المعجم الكبير»(۸/ ۱٤۱) و الهيثمي في « مجمع الزوائد و منبع الفوائد»(۳/ ۵۹۳).

۳ – أخرجه احمد فی «مسنده»(۳٤/ ۵٦۰) و البيهقي في « سنن الكبرى» (٦/ ۹۷).

نو د پورته ایاتونو او آحادیثو څخه په ښکاره معلومیږي چي دمالیې او ګمرک او ټیکس اخیستل حرام او ناجائز کار دی ،ځکه دغه شیان خو هم ددغه کس بغیره رضاء او خوښي ورڅخه اخیستل کیږي .

په قرآن کریم او احادیثو کي دمالیې او ګمرک پر جواز باندي کوم مستند دلیل نه ترسترګو کیږي .

هغه دلائل چې د ټيکس پر حرمت دلالت کوي.

که موږ د شريعت محمدي غراء صفحې واړوو، هيڅ کله به يو داسې دليل، پيدا نه کړو ،چې هغه د ټيکس، ګمرک يا ماليه پر روا والي او جواز صراحةً دلالت وکړي ،بلکې ټول به داسې دلائل په لاس راسي ،چې هغه و ټيکس، ګمرک يا محصول ته هيڅ اجازه نه ورکوي،حتی د ډيرو دلائلو څخه خو معلوميږي چې هغه سړی چې ټيکس يا ماليه اخلي ډير لوی ګناه ګاره دی حتی جنتته به هم داخل نه سي ، خو اوس به موږ د موضوع دلاښه روښيانتيا لپاره يو څه دلائل ذکر کړو ، کوم چې د ټيکس او ماليه پر حراموالي او ناروا توب دلالت کوي.

اول دليل:

ټيکس پر مسلمانانو نسته صرف پر کافرانو باندي دی.

په يو حديث شريف کي راځي: عن بَكْرِ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ خَالِهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَعْشِرُ قَوْمِي؟ قَالَ: " إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى الْيَهُودِ، وَالنَّصَارَى وَلَيْسَ عَلَى أَهْلِ الْإِسْلَامِ عُشُورٌ ".

ژباړه: بکربن وائل د خپل ماما څخه روايت کوي هغه وايې ما رسول الله –صلى الله عليه وسلم– ته وويل يا رسول الله زه د خپل قوم څخه لسمه حصه (ټيکس،کمرک) واخلم رسول الله –صلى الله عليه وسلم– وويل لسمه حصه (د مال تجارت ټيکس) صرف پر يهودو او نصاری وو باندي دی ، پر مسلمانانو باندي نسته دی(۱).

۱-(سنن ابي داود :۸/ ۲۶۸ رقم ۲۶۴۹ وسنن الترمذي :۳/ ۳۰رقم ۵۷۴ و مسند احمد :۳۲/ ۵۹ رقم ۱۵۳۳۲ ومصنف ابن ابي شيبه :۳/ ۸۷ و السنن الكبرى للبيهقي :۹/ ۱۹۹).

په يو بل حديث شريف کي هم راځي:

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ عُشُورٌ إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ».

رسول الله –صلى الله عليه وسلم– فرمايي: چي پر مسلمان باندي ټيکس نسته ،ټيکس صرف پر ذميانو باندي دی (۱).

«عَنْ بَكْرِ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ خَالِهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَعْشِرُ قَوْمِي؟ قَالَ: " إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى الْيَهُودِ، وَالنَّصَارَى وَلَيْسَ عَلَى أَهْلِ الْإِسْلَامِ عُشُورٌ ».

ژباړه: بکربن وائل دخپل ماما څخه نقل کوي ، چي زه يو وخت دسول الله –صلى الله عليه وسلم– حضورته حاضر سوم ، او ومي فرمايل يارسول الله ، ايا زه دخپل قوم څخه ټيکس واخلم ؟ رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل ټيکس صرف پر يهودو او نصاری وو باندي دی، پر مسلمانانو باندي ټيکس نسته دی(۲).

عَنْ حَرْبِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَيْرٍ الثَّقَفِيِّ، عَنْ جَدِّهِ، رَجُلٍ مِنْ بَنِي تَغْلِبَ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَسْلَمْتُ وَعَلَّمَنِي الْإِسْلَامَ، وَعَلَّمَنِي كَيْفَ آخُذُ الصَّدَقَةَ مِنْ قَوْمِي مِمَّنْ أَسْلَمَ، ثُمَّ رَجَعْتُ إِلَيْهِ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كُلُّ مَا عَلَّمْتَنِي قَدْ حَفِظْتُهُ إِلَّا الصَّدَقَةَ، أَفَأُعَشِّرُهُمْ؟ قَالَ: «لَا، إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى النَّصَارَى، وَالْيَهُودِ».

ژباړه: حرب بن عبيد الله روايت کوي ،چي ما دخپل نيکه څخه واو رېدل، هغه ويل چي زه دسول الله –صلى الله عليه وسلم– په مجلس کي حاضر سوم ، او اسلام مي قبول

۱–«شرح معاني الآثار» (۲/ ۳۱).

۲–« أخرجه أحمد في مسنده » ۳۲/ ۵۹ رقم (۱۵۳۳۲). وابي داود في سننه :۸/ ۲۸۸).

کړې بيا رسول الله –صلى الله عليه وسلم– ماته د اسلام تعليم راکړی، او د دې تعليم يې هم راکړی چې زه په خپل قوم کې د هغه کسانو څخه، کومو چې اسلام قبول کړی دی، صدقه څنګه قبوله کړم؟ (د يو څه زنډ څخه وروسته مي بيا عرض وکړی) او ومې فرمايل چې يارسول الله هر هغه څه چې مي زده کړل هغه مي ياد کړل، خو د غه د صدقې په معنى پوه نه سوم، ايا زه د دوی څخه په مال تجارت کې لسمه حصه واخلم؟ نو رسول الله –صلى الله عليه وسلم– وفرمايل: يا لسمه حصه صرف بر يهودو او نصاری وو ده (۱).

دويم دليل:

ټيکس اخيستونکی جنته نه سي داخليدلای. په حديث شريف کې راځي.

عن عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ صَاحِبُ مَكْسٍ»، قَالَ أَبُو مُحَمَّد: «يَعْنِي عَشَّارًا».

ژباړه: د حضرت عقبه بن عامر –رضى الله عنه– څخه روايت دی چې ما د رسول الله –صلى الله عليه وسلم– څخه واورېدل، چې هغه وفرمايل: جنته به داخل نه سي، ټيکس اخيستونکی، يعني: لسمې حصې اخيستلو والا (۲).

۱-« أخرجه أبي داود في سننه » (۳/ ۱٦۹) رقم (۳۰٤۹).

۲-«أخرجه الدارمي في سننه » (۲/ ۱۰۳٦) «۱۷۰۸». السنن البيهقي الكبرى: ۷/ ۱۶ رقم الحديث (۱۲۹۵۴) سنن ابي داؤد: ۳/ ۱۳۲ رقم الحديث(۲۹۳۷) مسند احمد: ۴/ ۱۴۳) مسند ابي يعلى: ۳/ ۲۹۳ رقم الحديث (۱۷۵۶) المعجم الكبير: ۱۷/ ۳۱۷ رقم الحديث ۸۷۸، الترغيب والترهيب: ۱/ ۳۱۹ رقم الحديث ۱۱۷۲).

«" إِنَّ صَاحِبَ الْمَكْسِ فِي النَّارِ "».

صاحب المكس (ټيکس وصول کولو والا) په جهنم کي دی(۱) .

دريم دليل:

ټيکس اخيستونکی د حوض کوثر څخه محروم دی.

عَنْ جُودَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: "مَنْ اعْتَذَرَ إِلَى أَخِيهِ بِمَعْذِرَةٍ فَلَمْ يَقْبَلْهَا، كَانَ عَلَيْهِ مِثْلُ خَطِيئَةِ صَاحِبِ مَكْسٍ"».

ژباړه: جودان – رضی الله عنه– وايې چي رسول الله –صلی الله عليه وسلم– وفرمايل: که يو څوک خپل ورور ته عذر پېش کړي ، او هغه يې قبول نه کړي ، هغه دومره ګناه ګاره دی لکه : ټيکس اخيستونکی، او په روايت «معجم الأوسط» کي وايې: چي ټيکس اخيستونکی ، هغه دی چي لسمه حصه اخلي، خو په غير مشروع طريقه (۲).

وفي «موسوعة الأخلاق والزهد والرقائق».

---

۱ –«مسند أحمد» (۲۸/ ۲۱۱) السنن الكبرى :۵/ ۲۹ رقم الحديث ۴۴۹۳، مجمع الزوائد ۳/ ۸۸.

۲ –«أخرجه ابن ماجه في سننه » (٤/ ٦٦٥)«۳۷۱۸ » . ت: الأرنؤوط. وفي رواية «المعجم الأوسط» (۸/ ۲۸۳): قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ: «الْمَكَّاسُ: الْعَشَّارُ».و«الأحاد والمثاني :۵/ ۱۷۵ رقم الحديث (۲۷۰۹) المعجم الكبير ۲/ ۲۷۵ رقم الحديث (۲۱۵۶).

«(المكس: الضريبة والجباية والإتاوة التي تؤخذ بغير حق»(١).

ژباړه: مکس : هغه «ضـریبه» یا «جبایه» یا «اتاوة» دی ، چې بغیره شـرعي دلیله د خلګو څخه اخیستل کیږي .

او په نورو روایاتو کې داخبره ښـکاره سـوې ده ، چې کوم مسـلمان د خپل ورور عذر قبول نه کړي ، هغه په ورځ د آخرت د حوض کوثر څخه محروم دی.

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ قَالَ: نَا عَلِيُّ بْنُ قُتَيْبَةَ الرِّفَاعِيُّ قَالَ: نَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تُنُصِّلَ إِلَيْهِ فَلَمْ يَقْبَلْ لَمْ يَرِدْ عَلَيَّ الْحَوْضَ»(٢) .

څلورم دلیل:

د ټیکس اخیستونکې دعاء نه قبلیږي. په حدیث شریف کې راځي:

« وَعَن عُثْمَان بن أبي العَاصِي رَضِي الله عَنْهُمَا عَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم قَالَ تفتح أَبْوَاب السَّمَاء نصف اللَّيْل فينادي مُنَاد هَل من دَاع فيستجاب لَهُ هَل من سَائل فَيعْطى هَل من مكروب فيفرج عَنهُ فَلَا يبْقى مُسلم يَدْعُو بدعوة إِلَّا اسْتَجَابَ الله عز وَجل لَهُ إِلَّا زَانِيَة تسْعَى بفرجها أَو عشارا».

١- موسوعة الأخلاق والزهد والرقائق» (٢/ ١٢٢)

٢- أخرجه الطبراني (ت ٣٦٠هـ) في « المعجم الأوسط» (١/ ٣٠٦)رقم الحديث :« ١٠٢٩ ».

ژباړه: دعثمان ابن أبي العاص – رضـي الله عنه– څخه روايت دی چي رسـول الله– صلی الله علیه وسلم– وفرمايل: چي کله په نیمه شپه کي، داسمان دروازه خلاصه سي ، بس يو ناره کونکی ناره کړي،چي يو دعاء کونکی نسته چي دعايې قبوله کړو ، ايا يو سوال کونکی نسته چي څه ورکړو، ايا يو تنګلاستی نسته چي تنګدستي يې ورختمه کړو، بس نسته يو سوال کونکی چي سوال ورکړي مګر الله (جل جلاله) هغه ته يو څه ور کوي ، مګر زنا کاره ښـځې ته يې نه ور کوي او بل ټيکس اخيسـتونکي ته يې نه ور کوي (۱).

مَرَّ عُثْمَانُ بْنُ أَبِي الْعَاصِ عَلَى كِلَابِ بْنِ أُمَيَّةَ وَهُوَ جَالِسٌ عَلَى مَجْلِسِ الْعَاشِـرِ بِالْبَصْـرَةِ فَقَالَ: مَا يُجْلِسُـكَ هَاهُنَا؟ قَالَ : اسْـتَعْمَلَنِي هَذَا عَلَى هَذَا الْمَكَانِ – يَعْنِي زِيَادًا – فَقَالَ لَهُ عُثْمَانُ: أَلَا أُحَدِّثُكَ حَدِيثًا سَـمِعْتُهُ مِنْ رَسُـولِ اللهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ؟ قَالَ: بَلَى، فَقَالَ عُثْمَانُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ يَقُولُ: " كَانَ لِدَاوُدَ نَبِيِّ اللهِ عَلَيْهِ السَّـلَامُ مِنَ اللَّيْلِ سَـاعَةٌ يُوقِظُ فِيهَا أَهْلَهُ، فَيَقُولُ: يَا آلَ دَاوُدَ قُومُوا فَصَـلُّوا، فَإِنَّ هَذِهِ سَـاعَةٌ يَسْـتَجِيبُ اللهُ فِيهَا الدُّعَاءَ، إِلَّا لِسَاحِرٍ أَوْ عَشَّارٍ "، فَرَكِبَ كِلَابُ بْنُ أُمَيَّةَ سَفِينَتَهُ، فَأَتَى زِيَادًا فَاسْتَعْفَاهُ فَأَعْفَاهُ».

ژباړه: يو وخت عثمان بن ابي عاص –رضی الله عنه– پرحضرت کلاب بن اميه –رضی الله عنه– باندي تېرېدی ، هغه په بصره کي د عشـر ټولونکو (ټيکس اخيسـتونکو) سره ناست و ،حضرت عثمان بن ابي عاص –رضی الله عنه– پوښتنه ورڅخه ورکړه ، چي ته دلته څه کوې چي ناسـت يې ؟ حضـرت کلاب بن اميه –رضـی الله عنه– وويل چي زه دلته عامل (عشـر ټولونکی) مقرر سوی يم ، بيا هغه ور ته و فرمايل : چي ايا زه

۱–«الترغيب والترهيب » للمنذري (۳/ ۱۸٦) ط : العلمية.

تاته يو داسي حديث وانه ورم، كوم چي ما د رسول الله – صلى الله عليه وسلم – څخه اورېدلی دی، چي هغه وويل: چي د حضرت داؤد – عليه والسلام – د پاره په شپه کي يو څه خاص وخت وو، چي په هغه کي يې خپل اهل او عيال را وېښول، او هغه به وويل: ای د داؤد اهله ولاړ سی او لمونځونه وکړی، ځکه په دغه وخت کي يو داسي وخت سته چي په هغه کي الله – جل جلاله – د خلګو دعاګاني قبلوي، مګر نه قبلوي د سحر کونکي او ټيکس اخيستونکي، د دغه خبري د اورېدلو سره حضرت کلاب بن اميه ولاړ سو او دستي يې استعفاء وړاندي کړل، او استعفاء قبوله سوه (۱).

دغه موضوع ته ورته يو بل حديث هم سته.

حَدَّثَنَا أَبُو الرَّبِيعِ، ثنا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: بَعَثَ زِيَادٌ كِلَابَ بْنَ أُمَيَّةَ عَلَى الْأُبُلَّةِ، فَمَرَّ بِهِ عُثْمَانُ بْنُ أَبِي الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقَالَ: " يَا أَبَا هَارُونَ مَا يُقْعِدُكَ هَا هُنَا؟ قَالَ: بَعَثَنِي هَذَا عَلَى الْأُبُلَّةِ فَقَالَ: عَلَى الْمَكْسِ. ثُمَّ قَالَ: أَلَا أُحَدِّثُكَ حَدِيثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- سَمِعْتُ نَبِيَّ اللَّهَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : " إِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُوقِظُ أَهْلَهُ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ فَيَقُولُ: يَا آلَ دَاوُدَ قُومُوا فَصَلُّوْا، فَإِنَّ هَذِهِ السَّاعَةَ يَسْتَجِيبُ اللَّهُ تَعَالَى فِيهَا الدُّعَاءَ إِلَّا لِسَاحِرٍ أَوْ عَشَّارٍ " قَالَ: فَرَكِبَ سَفِينَتَهُ، ثُمَّ جَاءَ إِلَى زِيَادٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ: ابْعَثْ عَلَى عَمَلِكَ مَنْ شِئْتَ»(۲).

۱-«أخرجه احمد في مسنده» (۲٦/ ۲۰۸«۱٦۲۸۱»).

۲-«الآحاد والمثاني لابن أبي عاصم» (۳/ ۱۹۷) «۱٥٤٤».

پنځم دلیل:

(د ټیکس ګناه دزنا څخه کمه نه ده. په حدیث شریف رائي .

حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا بَشِيرٌ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ غَامِدٍ فَقَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللهِ، إِنِّي قَدْ زَنَيْتُ، وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ تُطَهِّرَنِي. فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ارْجِعِي ". فَلَمَّا أَنْ كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَتْهُ أَيْضًا فَاعْتَرَفَتْ عِنْدَهُ بِالزِّنَا فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي قَدْ زَنَيْتُ، وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ تُطَهِّرَنِي. فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ارْجِعِي ". فَلَمَّا أَنْ كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَتْهُ أَيْضًا فَاعْتَرَفَتْ عِنْدَهُ بِالزِّنَا فَقَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللهِ، طَهِّرْنِي فَلَعَلَّكَ أَنْ تَرُدُّنِي كَمَا رَدَدْتَ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ فَوَاللهِ إِنِّي لَحُبْلَى. فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ارْجِعِي حَتَّى تَلِدِي ". فَلَمَّا وَلَدَتْ جَاءَتْ بِالصَّبِيِّ تَحْمِلُهُ فَقَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللهِ، هَذَا قَدْ وَلَدْتُ. قَالَ: " فَاذْهَبِي فَأَرْضِعِيهِ حَتَّى تَفْطِمِيهِ ". فَلَمَّا فَطَمَتْهُ جَاءَتْ بِالصَّبِيِّ فِي يَدِهِ كِسْرَةُ خُبْزٍ قَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللهِ، هَذَا قَدْ فَطَمْتُهُ، فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّبِيِّ فَدَفَعَهُ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَأَمَرَ بِهَا فَحُفِرَ لَهَا حُفْرَةٌ فَجُعِلَتْ فِيهَا إِلَى صَدْرِهَا، ثُمَّ أَمَرَ النَّاسَ أَنْ يَرْجُمُوهَا، فَأَقْبَلَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ بِحَجَرٍ فَرَمَى رَأْسَهَا، فَنَضَحَ الدَّمُ عَلَى وَجْنَةِ خَالِدٍ فَسَبَّهَا، فَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبَّهُ إِيَّاهَا فَقَالَ: " مَهْلًا يَا خَالِدُ بْنَ الْوَلِيدِ لَا تَسُبَّهَا فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ " فَأَمَرَ بِهَا فَصَلَّى عَلَيْهَا وَدُفِنَتْ (١).

---

١ - « أخرجه أحمد في «مسنده» (٣٨/ ٣٧) «٢٢٩٤٩ ».

حديث صحيح وقصة سب خالد بن الوليد للغامدية، وقصة انتظار الفطام للرجم، تفرد بهما بشير -وهو ابن المهاجر الغنوي- في حديث بريدة، وهو مختلف فيه؛ فقوَّى أمره قوم، وضعّفه آخرون، ونقل الأثرم عن الإمام أحمد أنه قال: منكر الحديث، وقد اعتبرت أحاديثه فإذا هو يجيء بالعجب.

وأخرجه الدارمي (٢٣٢٤) ، والنسائي في "الكبرى" (٧١٩٧) ، وأبو عوانة (٦٢٩٥) و (٦٤٦٧) ، والبيهقي ٨/ ٢٢٩ من طريق أبي نعيم الفضل بن دكين، بهذا الإسناد. وجاء عند الدارمي والنسائي وأبي عوانة في الموضع الأول أنه عليه الصلاة والسلام ردَّها مرةً، والثانيةَ حتى تَلِدَ، ولم يَسُق أبو عوانة في الموضع الثاني ولا البيهقي الحديث بتمامه.

وأخرجه تامّاً ومختصراً ابن أبي شيبة ١٠/ ٨٦-٨٧، ومسلم (١٦٩٥) (٢٣) ، وابن حزم في "المحلى" ١١/ ١٢٨، وابن عبد البر في "التمهيد" ٢٤/ ١٣٢-١٣٣، وفي "الاستذكار" ٢٤/ ٣٦-٣٧ من طريق عبد الله بن نمير، وأبو داود (٤٤٤٢) ، وأبو عوانة (٦٢٩٦) ، والخطيب في "الأسماء المبهمة" ص ٣٦٠، وابن عبد البر في "التمهيد" ٢٤/ ١٣٣، وفي "الاستذكار" ٢٤/ ٣٦-٣٧ من طريق عيسى بن يونس، وأبو داود (٤٤٣٤) ، وأبو عوانة (٦٢٩٣م) من طريق أبي أحمد الزبيري، والحاكم ٤/ ٣٦٣، والبيهقي ٤/ ١٨-١٩ و٨/ ٢١٨ و٢٢١ من طريق خلاد بن يحيى، والنسائي في "الكبرى" (٧٢٧١) من طريق محمد بن فضيل، خمستهم عن بشير بن المهاجر، به. وذكر فيه مسلم وابن حزم والبيهقي في الموضع الثالث قصة رجم ماعز بن مالك الأسلمي، وقد سلفت في "المسند" مفردة من طريق المصنف نفسه برقم (٢٢٩٤٢) ، وزاد النسائي: قال بريدة: كنا -أصحابَ محمد- نتحدث لو أن ماعزاً وهذه المرأة لم يجيبا في الرابعة، لم يطلبهما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ووقع عند أبي عوانة في الموضع الثاني: أنه ردها صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في الرابعة حتى تلد، وقال فيه: "لقد تابت توبة لو تابها سبعون من أهل المدينة لتُقُبِّل منهم" بدل: "لقد تابت توبة لو تابها صاحب مكس لغفر له"، ورواية أبي داود مختصرة: قال بريدة: كنا -أصحاب رسول الله- نتحدث أن الغامدية وماعز بن مالك لو رجعا بعد اعترافهما -أو قال: لو لم يرجِعا بعد اعترافهما-، لم يطلبهما، وإنما رجمهما عند الرابعة.

وأخرجه مسلم (١٦٩٥) (٢٢) ، والنسائي في "الكبرى" (٧١٨٦) ، وأبو عوانة (٦٢٩٢) ، والطبراني في "الأوسط" (٤٨٤٠) ، والدارقطني ٣/ ٩١-٩٢، وأبو نعيم في "معرفة الصحابة" (١٢٣٧) ، والبيهقي ٦/ ٨٣-٨٤ و٨/ ٢١٤ و٢٢٦ و٢٢٩، والبغوي (٢٥٨٧) من طريق يحيى بن يعلى بن الحارث المحاربي، عن أبيه، عن غيلان بن جامع، عن علقمة بن

د استدلال وجه : صاحب مکس یاعشار هغه کس دی چې د خلکو څخه ،دعشر په نامه پرته له شرعي موجب او دلیل نه ، اضافي پیسې اخلي ، او دا کار ډېر لوی جرم دی ،حتی صاحب مکس او عشار جنت ته نه شي تللای.

په حدیث کې چې د «مکس» لفظ راغلی دی ، د هغې صحي تشریح محدیثینو په عشار باندې کړې ده ، یعني هغه څوک چې عشر (دمال لسمه حصه) په غیري مشروع طریقه اخلي ، د امام ابوحنیفه –رحمه الله تعالی– په مسند کې په صحي سند حدیث ذکر شوی هغه لیکي : عن علقمة، عن ابن بريدة، عن أبيه، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من لم يقبل عذر مسلم يعتذر إليه، فوزره كوزر صاحب مكس، فقيل: قالوا: يا رسول، وما صاحب مكس؟ قال: عشار "(۱).

که چیري موږ بنه په غور او فکر سره وګورو د دغه عشر او مکس اصل د جاهلیت په زمانه کې و، چې پر دې به ټولو عربو او عجمو عمل کاوه، او په دې اړه د دوی تګلاره داسې وه چې کله به تجاران د دوی پر سېمه تېرېدل؛ نو دوی به له هغو د مال لسمه اخېستله.

او امام طحاوي – رحمه الله تعالی – د دې په څېړنه کې داسې وايي:« إن العشر الذي كان رسول الله صلي الله عليه وسلم رفعه عن المسلمين هو العشر الذي كان يؤخذ في الجاهلية »(۲).

مرثد، عن سليمان بن بريدة، عن أبيه. وليس فيه قصة الفِطام، ولا قصة سب خالد بن الوليد للغامدية، وبيان عِظم توبتها، وهذه الطريق رجالها ثقات كلهم.

۱ – «مسند أبي حنيفة رواية الحصكفي» كِتَابُ الْأَدَبِ

۲ –(شرح معان الآثار للطحاوي٬ كتاب الزكواة٬ باب الزكواة هل يأخذها الإمام اولا ج۲ص۳۱.)

همدارنګه امام ابوعبيد قاسم بن سلام -رحمه الله تعالى- د دې په تشريح کې داسې وايې:

«كان له أصل في الجاهلية، يفعله ملوك العرب والعجم جميعا فكانت سنتهم أن يأخذوا من التجار عشر اموالهم إذا مرّوا بها عليهم»(١).

نو کوم عشر چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ختم کړ، دا هغه عشر (لسمه) و، کوم چې د جاهليت په زمانه کې به اخېستل کېده، خو بيا رسول الله -صلى الله عليه وسلم- دا کار ختم کړ، او ناروا يې وبلى .

څرګنده ده چې د جاهليت په زمانه کې پاچايانو پر خپلو رعيتونو کومې ماليې يا ټيکس يا ګمرک وربار کړې وي، هغه ربښتيا هم ظلم و، نن هم چې اسلامي يا غير اسلامي حکومتونو له ډيره اړتيا او شديد ضرورته پرته کومې ماليې پر خلکو ايښې دي چې موږ يې مخکې يادونه وکړه، او په راروانه کي به هم وسي ، دا هم له شک پرته ظلم دی، او ناروا دی.

---

١ -(کتاب الأموال لأبي عبيد، باب ذکر العاشر وصاحب المکس ج٢ص١٠٢، تحت الحديث١٦٢٤).

دټیکس او دهغه د وصول کونکي ،په هکله د محدثینو اوفقهاوو فتوی.

محدث کبیر علامه أبو زکریا محي الدین النووي (المتوفی: ٦٧٦هـ) په دې هکله داسې فرمايي:

«فِيهِ أَنَّ الْمَكْسَ مِنْ أَقْبَحِ الْمَعَاصِي وَالذُّنُوبِ الْمُوبِقَاتِ وَذَلِكَ لِكَثْرَةِ مُطَالَبَاتِ النَّاسِ لَهُ وظلاماتهم عِنْدَهُ وَتَكَرُّرِ ذَلِكَ مِنْهُ وَانْتِهَاكِهِ لِلنَّاسِ وَأَخْذِ أَمْوَالِهِمْ بِغَيْرِ حَقِّهَا وَصَرْفِهَا فِي غَيْرِ وَجْهِهَا»(١).

وفى «شرح سنن ابن ماجه »

«صَاحب مكس وَهُوَ من يَأْخُذ من التُّجَّار إِذا مروا مكسا أَي ضريبة باسم الْعشْر وَفِيه ان المكس أعظم الذُّنُوب وَذَلِكَ لِكَثْرَة مطالبات النَّاس ومظلماتهم وصرفها فِي غير وَجههَا طيبي»(٢).

همدارنګه علامه عبد العظیم المنذري (ت ٦٥٦هـ) فرمايي:

١-«شرح النووي على مسلم» (١١/ ٢٠٣).

٢-«شرح سنن ابن ماجه » (ص٢٦٤) للسيوطي وغيره

«قَالَ الْبَغَوِيّ يُرِيد بِصَاحِب المكس الَّذِي يَأْخُذ من التُّجَّار إِذا مروا عَلَيْهِ مكسا باسم الْعشْر

قَالَ الْحَافِظ أما الْآن فَإِنَّهُم يَأْخُذُونَ مكسا باسم الْعشْر ومكوسا أخر لَيْسَ لَهَا اسْم بل شَيْء يأخذونه حَرَامًا وسحتا ويأكلونه فِي بطونهم نَارا حجتهم فِيهِ داحضة عِنْد رَبهم وَعَلَيْهِم غضب وَلَهُم عَذَاب شَدِيد»(١).

همدارنګه علامه أبو جعفر أحمد بن محمد المعروف بالطحاوي (ت ٣٢١هـ) فرمايي:

حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ شُعَيْبٍ قَالَ: ثنا الْخَصِيبُ قَالَ: ثنا حَمَّادٌ عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ عَنْ حَرْبِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَخْوَالِهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَهُ عَلَى الصَّدَقَةِ وَعَلَّمَهُ الْإِسْلَامَ وَأَخْبَرَهُ بِمَا يَأْخُذُ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ كُلُّ الْإِسْلَامِ قَدْ عَلِمْتُهُ إِلَّا الصَّدَقَةَ أَفَأُعْشِرُ الْمُسْلِمِينَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا يُعَشَّرُ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى " فَفِي هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ عَلَى الصَّدَقَةِ وَأَمَرَهُ أَنْ لَا يُعَشِّرَ الْمُسْلِمِينَ وَقَالَ لَهُ: إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى. فَدَلَّ ذَلِكَ أَنَّ الْعُشُورَ الْمَرْفُوعَةَ عَنِ الْمُسْلِمِينَ هِيَ خِلَافُ الزَّكَاةِ»(٢).

همدارنګه علامه زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف المناوي (ت ١٠٣١هـ) فرمايي:

(لا يدخل الجنة صاحب مكس) المراد به العشار وهو الذي يأخذ الضريبة من الناس قال البيهقي: المكس النقصان فإذا انتقص العامل من حق أهل الزكاة فهو صاحب مكس اه والمكس في الأصل

١-«الترغيب والترهيب للمنذري» (١/ ٣١٩) ط: العلمية

٢-«شرح معاني الآثار» (٢/ ٣١) «٣٠٦٣».

الخيانة والماكس العاشر والمكس ما يأخذه قال الطيبي: وفيه أن المكس من أعظم الموبقات وعده الذهبي من الكبائر ثم قال: فيه شبهة من قاطع الطريق وهو شر من اللص فإن عسف الناس وجدد عليهم ضرائب فهو أظلم وأغشم ممن أنصف في مكسه ورفق برعيته. وجابي المكس وكاتبه وآخذه من جندي وشيخ وصاحب زاوية شركاء في الوزر أكالون للسحت»(١).

همدارنګه علامه أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (ت ۳۷۰ھ) فرمايي:

«وَكَذَلِكَ حُكْمُ مَنْ يَأْخُذُ أَمْوَالَ النَّاسِ مِنْ الْمُتَسَلِّطِينَ الظَّلَمَةِ وَآخِذِي الضَّرَائِبِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ الْمُسْلِمِينَ قِتَالُهُمْ وَقَتْلُهُمْ إذَا كَانُوا مُمْتَنِعِينَ، وَهَؤُلَاءِ أَعْظَمُ جُرْمًا مِنْ آكِلِي الرِّبَا لِانْتِهَاكِهِمْ حُرْمَةَ النَّهْيِ وَحُرْمَةَ الْمُسْلِمِينَ جَمِيعًا. وَآكِلُ الرِّبَا إنَّمَا انْتَهَكَ حُرْمَةَ اللَّهِ تَعَالَى فِي أَخْذِ الرِّبَا وَلَمْ يَنْتَهِكْ لِمَنْ يُعْطِيهِ ذَلِكَ حُرْمَةً; لِأَنَّهُ أَعْطَاهُ بِطِيبَةِ نَفْسِهِ. وَآخِذُو الضَّرَائِبِ فِي مَعْنَى قُطَّاعِ الطَّرِيقِ الْمُنْتَهِكِينَ لِحُرْمَةِ نَهْيِ اللَّهِ تَعَالَى وَحُرْمَةِ الْمُسْلِمِينَ; إذْ كَانُوا يَأْخُذُونَهُ جَبْرًا وَقَهْرًا لَا عَلَى تَأْوِيلٍ وَلَا شُبْهَةٍ، فَجَائِزٌ لِمَنْ عَلِمَ مِنْ الْمُسْلِمِينَ إصْرَارَ هَؤُلَاءِ عَلَى مَا هُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَخْذِ أَمْوَالِ النَّاسِ عَلَى وَجْهِ الضَّرِيبَةِ أَنْ يَقْتُلَهُمْ كَيْفَ أَمْكَنَهُ قَتْلُهُمْ، وَكَذَلِكَ أَتْبَاعُهُمْ وَأَعْوَانُهُمْ الَّذِينَ بِهِمْ يَقُومُونَ عَلَى أَخْذِ الْأَمْوَالِ».(٢).

١-«فيض القدير» (٦/ ٤٤٩) «٩٩٦٥».

٢-«أحكام القرآن للجصاص» (١/ ٥٧٢). ط: العلمية.

تطبيق او موافقه:

په راتلونکي عباراتو کي به تاسو ته روښانه او ښکاره سي، چي د حکومت لپاره دا روا او جائز ده، چي په مشروط ډول سره پر خپل رعيت باندي، ټيکس، ګمرک يا ماليه کښېږدي، نود دې نصوصو او دهغه عباراتو ترمينځ جمعه په دې توګه ممکنه ده چې؛ د مالياتو اخيستل په هغه وخت کې حرام دي، چې په بيت المال کې په کافي اندازه مال شتون ولري، يا ماليات په ټول رعيت پرته له تفکيک څخه د غني او فقير له ټولو يو شان ماليه واخيستل شي، دې ډول مالياتو ته مکس او ظالمانه ماليات يا ګمرک ويل کيږي.

اما که واقعي ضرورت وي، يا د وخت امير او مشر واقعي ضرورت وويني، نوو دغه ضرورته په کتلو سره، بيا رواه او جائز دی، چي پر خپل رعيت باندي ټيکس او ماليه کښېږدي، خو په شرط د دې چي کوم شرائط موږ په راروانه کي بيانه وو، هغه شرائط به پکښې پوره وي.

زموږ د مذهب مشهوره عالم، امام سرخسي- رحمه الله تعالی- وايې:

"والذي روي من ذم العشــار محمول على من يأخذ مال الناس ظلما كما هو في زماننا دون من يأخذ ما هو حق وهو الصدقة"(١).

همدا رنګه علامه ابن نُجيم – رحمه الله تعالى – فرمايي:

« وما ورد من ذم العشار محمول على من يأخذ أموال الناس ظلما كما تفعله الظلمة اليوم روي أن عمر أراد أن يســتعمل أنس بن مالك على هذا العمل فقال له: أتســتعملني على المكس من عملك فقال: ألا ترضى أن أقلدك ما قلدنيه رسول الله – صلى الله عليه وسلم – اهـ.

وفي الخانية من قسم الجبايات والمؤن بين الناس على السوية يكون مأجورا. اهـ»(٢).

همدا رنګه علامه زيلعي –رحمه الله تعالى –فرمايي:

«وَمَا وَرَدَ مِنْ ذَمِّ الْعَاشِـرِ مَحْمُولٌ عَلَى مَنْ يَأْخُذُ أَمْوَالَ النَّاسِ ظُلْمًا كَمَا يَفْعَلُهُ الظَّلَمَةُ الْيَوْمَ وَأَمَّا أَخْذُ الصَّدَقَاتِ فَإِلَى الْإِمَامِ كَذَا كَانَ فِي أَيَّامِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – وَفِي زَمَنِ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَفَوَّضَ عُثْمَانُ إلَى أَرْبَابِهَا فِي الْأَمْوَالِ الْبَاطِنَةِ إذَا لَمْ يَمُرَّ بِهَا عَلَى الْعَاشِـرِ فَبَقِيَ مَا وَرَاءَهُ عَلَى الْأَصْـلِ وَرُوِيَ أَنَّ عُمَرَ أَرَادَ أَنْ يَسْـتَعْمِلَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَلَى هَذَا الْعَمَلِ فَقَالَ لَهُ أَتَسْتَعْمِلُنِي عَلَى الْمَكْسِ مِنْ عَمَلِك فَقَالَ أَفَلَا تَرْضَى أَنْ أُقَلِّدَكَ مَا قَلَّدَنِيهِ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –»(٣).

---

١ – «المبسوط للسرخسي» (٢/ ١٩٩)

٢ – «البحر الرائق» (٢/ ٢٤٩).

٣ –«تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي» (١/ ٢٨٢)

امام محمد -رحمه الله تعالى- وايې: چې په هغه صورت کې چې په بيت المال کې د کلنيو مصارفو لپاره کافي وجوه نه وي موجود ، حکومت کولای شي چې د شرطونو د مراعاتولو په صورت کې عادلانه ماليه واخلي چې د حکومت مصارف پوره کړي.

" وعلى هذا لو أراد الامام أن يجهز جيشا فإن كان في بيت المال سعة فينبغي له أن يجهزهم بمال بيت المال ولا يأخذ من الناس شيئا، وإن لم يكن في بيت المال سعة كان له أن يتحكم على الناس بما يتقوى به الذين يخرجون إلى الجهاد؛ لانه نصب ناظرا لهم، وتمام النظر في ذلك"(١).

همدا رنګه أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي (ت ٥٠٥هـ) -رحمه الله تعالى- وايې :

اما اذا دخلت الايد من الاموال و لم يكن من مال المصالح مابقى بخراجات العسكر و لو تفرق العسكر واشتغلوا بالكسب لخيف دخول الكفار بلاد الاسلام او خيف ثوران الفتنة من اهل العرامنة فى بلاد الاسلام فيجوز للامام ان يوظف على الاغنياء مقدار كفاية الجند(٢).

همدا رنګه القاضي أبو يعلى محمد بن الحسين بن محمد بن خلف ابن الفراء (المتوفى : ۴۵۸هـ) فرمايې:

ان كان البد ثغراًيتاخم دارالحرب و كانت اموالهم اذا دخلت دارالسلام معشورة عن صلح استقر معهم اثبت فى الديوان عقد صلحهم و قدر الماخوذ منهم من عشر او خمس او زيادة عليه او

---

١ - «الأصل للشيباني » (٣/ ٢٧٢) ط: قطر

٢ -(المستصفى للامام غزالى رح ج : ١، ص: ٣٠۴)

نقصـــان منه و ان كان يختلف باختلاف الامتعة والاموال فصـــلت فيه و كان الديوان موضـــوعاء لاخراج رسومه و الاستيفاء ما يرفع اليه من مقادير الامتعة المحمولة اليه(١).

همدا رنګه علامه الزاهدی فرمايې :

فعلى هذا ما يؤخذ خوارزم من العامة لاصلاح مسناة الجيحون او للربض و نحو من مصالح العامة دين واجب حق مستحق لايجوز الامتناع عن ادائه وليس بظلم(٢).

همدارنګه علامه أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي (ت ۵۰۵ هـ) .

پر دې مسئله ښه تفصيلي بحث کړی دی، نوموړي لومړی د هغو واکمنو بدي او مذمت بيان کړی دی کوم چې د خپل پوځ د بې ځايه لګښتونو د پاره يې ماليې وضع کړي دي، له هغه وروسته بيا وايې:

«فأما لو قدرنا أماما مطاعا، مفتقرا إلى تكثير الجنود: لسد الثغور، وحماية الملك: بعد اتساع رقعته، وانبســاط خطته؛ وخلا بيت المال عن المال، وأرهقت حاجات الجن د إلى ما يكفيهم، وخلت عن مقدار كفايتهم أيديهم، فللإمام أن يوظف على الأغنياء ما يراه كافيا لهم في الحال، إلى أن يظهر مــال في بيــت المــال؛ ثم إليه النظر في توظيف ذلك على وجوه الغلات والثمار؛ كي لا يؤدي

١ -(الاحكام السلطانية ص : ٢۴۵ تقدير العطاء : الفصل السادس).

٢ - (شرح منظومة بن وهبان : ٨٩/ ١ ط: الوقف المدنى الخيرى)

تخصـيص بعض الناس به، إلا إيغار الصـدور، وإيحاش القلوب. ويقع ذلك قليلا من كثير: لا يجحف بهم، ويحصل به الغرض»(١).

له دې پورته عباراتو څخه په ښکاره او روښانه معلومېږي چې که واقعي ضرورت محسوس او ولېدل سي د وخت د مسلمانانو امام کولای سي چې خپل ضرورتونه، د شتمنو او مړو خلګو په مال پوره کړی.

د پورته نيو نصوصو او عبارتونو څخه داهم معلومېږي چې د يوه هيواد څخه چې بل هيواد ته کوم تجارتي سامان لېږدول کيږي کومه ماليه يا ګمرک (ټيکس) چي حکومتونه اخلي په خپل شرائطو سره دا جائز او رواه دي.

---

١ -«شفاء الغليل في بيان الشبه والمخيل ومسالك التعليل» (ص٢٣٦)

د مسلمان په مال کي له زکات پرته بل حق هم لازمېدلای شي؟

په اسلامي شريعت کي پر مسلمانانو باندي د زکات څخه ماسيوا نوره خرچه و مصرف او حق هم لازمېدلای شي، ځکه په قرآنکريم کي الله (جل جلاله) داسي فرمايې :

{ وَ الَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ (٢٤) لِلسَّائِلِ وَ الْمَحْرُومِ } (١).

مطلب: د شتمنو مسلمانانو په شتمنۍ کي د فقيرانو، بېوزلو او غريبانو حق دی.

زموږ د مذهب تکړه او مشهوره امام، امام ابوبکر جصاص –رحمه الله تعالى– د دې ايات په تفسير کي، وروسته تر هغه چي د هغه مذهب دلائل ذکر کړي، چي د زکات څخه ماسيوا دمسلمان په مال کي نور حق هم واجب بولي، بيا فرمايې چي د زکات څخه علاوه د شتمنو خلګو په مال کي د مسکينانو حق دی او پر دې باندي د امت مسلمه اجماع او اتفاق دی.

«وقَوْله تَعَالَى وَفِي أَمْوالِهِمْ حَقٌّ قَالَ أَبُو بَكْرٍ اخْتَلَفَ السَّـلَفُ فِي تَأْوِيلِهِ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ وَالْحَسَـنُ وَالشَّـعْبِيُّ وَمُجَاهِدٌ هُوَ حَقٌّ سِـوَى الزَّكَاةِ وَاجِبٌ فِي الْمَالِ ... وَاحْتَجَّ مَنْ أَوْجَبَ فِيهِ حَقًّا سِـوَى

---

١ –(سورة معارج : ٢٤، ٢٥)

الزَّكَاةِ بِمَا رَوَى الشَّعْبِيُّ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ سَأَلْت رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ فَتَلَا لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ الْآيَةَ فَذَكَرَ الزَّكَاةَ فِي نَسَقِ التِّلَاوَةِ بَعْدَ قوله وَآتى الْمالَ على حُبِّهِ وَيَحْتَجُّونَ أَيْضًا بِحَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ صَاحِبِ إبِلٍ لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا فِي عُسْرِهَا وَيُسْرِهَا إلَّا بَرَزَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ تَطَأُهُ بِأَخْفَافِهَا وَذَكَرَ الْبَقَرَ وَالْغَنَمَ فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ وَمَا حَقُّهَا قَالَ تَمْنَحُ الْغَزِيرَةَ وَتُعْطِي الْكَرِيمَةَ وَتَحْمِلُ عَلَى الظَّهْرِ وَتَسْقِي اللَّبَنَ.

وَفِي حَدِيثِ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا حَقُّهَا قَالَ إطْرَاقُ فَحْلِهَا وَإِعَارَةُ دَلْوِهَا وَمِنْحَتِهَا وَحَلْبُهَا عَلَى الْمَاءِ وَحَمْلٌ عَلَيْهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ.

وَرَوَى الْأَعْمَشُ عَنْ الْمَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ انْتَهَيْت إلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ فَلَمَّا رَآنِي مُقْبِلًا قَالَ هُمْ الْأَخْسَرُونَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ فَقُلْت يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ هُمْ قَالَ هُمْ الْأَكْثَرُونَ أَمْوَالًا إلَّا مَنْ قَالَ هَكَذَا وَهَكَذَا حَثَا عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ وَبَيْنَ يَدَيْهِ مَا مِنْ رجُلٍ يَمُوتُ وَيَتْرُكُ إبِلًا لَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهَا إلَّا جَاءَتْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا وَتَطَأُهُ بِأَخْفَافِهَا كُلَّمَا بَعُدَتْ أُخْرَاهَا أُعِيدَتْ عَلَيْهِ أُولَاهَا حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ.

قَالَ أَبُو بَكْرٍ هَذِهِ الْأَخْبَارُ كُلُّهَا مُسْتَعْمَلَةٌ وَفِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ بِاتِّفَاقِ الْمُسْلِمِينَ مِنْهُ مَا يَلْزَمُ مِنْ النَّفَقَةِ عَلَى وَالِدَيْهِ إذَا كَانَا فَقِيرَيْنِ وَعَلَى ذَوِي أَرْحَامِهِ وَمَا يَلْزَمُ من إطعام الْمُضْطَرِّ وَحَمْلُ الْمُنْقَطِعِ بِهِ وَمَا جَرَى مَجْرَى ذلك من الحقوق اللازمة عند ما يَعْرِضُ مِنْ هَذِهِ الْأَحْوَالِ».(۱).

دلته په دغه موضوع کي دوه حديثونه دي ، يو پر دې دلالت کوي چي د مسلمان په مال کي ماسيوا د زکات څخه نور مال هم واجبيږي او بل پر دې دلالت کوي چي د مسلمان په مال کي ما سيوا د زکات څخه نور مال نه سي واجب کيدلای ،دغه حديثونه که څه هم په ظاهره او ښکاره ډول سره ټکر معلوميږي خو اوس موږ د دغه دوی حديثونه په مابين کي تطبيق او موافقه کوو ، اول به موږ دغه حديثونه ذکر کړو.

۱ -«أحكام القرآن للجصاص » (۵/ ۲۹۵) ت: قمحاوي

اول حديث:

«حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ الشَّعْبِي عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، أَنَّهَا سَمِعَتْهُ - تَعْنِي النَّبِيَّ (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) - يَقُولُ: "لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ" » (١).

---

١ - اخرجه ابن ماجه في سننه (١/ ٥٧٠)(١٧٨٩) باب ما أدي زكاته ليس بكنز ط :دار إحياء الكتب العربية.

وقال فضيلة الشيخ شعيب الأرنؤوط

إسناده ضعيف جدًا، شريك -وهو ابن عبد الله النخعي- سيئ الحفظ، وشيخه أبو حمزة -وهو ميمون الأعور- ضعيف. وقد اضطرب في متنه. الشعبي: هو عامر بن شَراحيل.

فأخرجه الترمذي (٦٦٥) و (٦٦٦) من طريقين عن شريك بن عبد الله النخعي، بهذا الإسناد، بلفظ: "إن في المال لحقًا سوى الزكاة"- هكذا على الإثبات وقد صحَّ عن الشعبي من قوله عند الطبري في "تفسيره" (٢٥٢٥) من طريق إسماعيل بن سالم عنه، سمعتُه يُسأل: هل على الرجل حق في ماله سوى الزكاة؟ قال: نعم، وتلا هذه الآية: {وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ} [البقرة: ١٧٧].

وصح عن ابن عمر فيما أخرجه ابن أبي شيبة ٣/ ١٩١ أنه قال لقزعة بن يحيى: ... ولكن في مالك حق سوى ذلك يا قزعة.

د استدلال وجه : دا حديث صريحا پرته له زكات نه نور ټول مال اخيستل منعه كوي، او پردې دلالت كوي ، چې د مسلمان په مال كي د زكات څخه ماسيوا نور مال نه سي واجب كيدلاى .

دويم حديث :

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ مَدُّوَيْهِ قَالَ: حَدَّثَنَا الأَسْوَدُ بْنُ عَامِرٍ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ الشَّعْبِيِّ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، قَالَتْ: سَأَلْتُ، أَوْ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الزَّكَاةِ؟ فَقَالَ: «إِنَّ فِي المَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ»، ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الآيَةَ الَّتِي فِي البَقَرَةِ: {لَيْسَ البِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ} [البقرة: ١٧٧] الآيَةَ(١).

د استدلال وجه : د دې پورته حديث څخه معلوميږي چې د مسلمان په مال كي ماسيوا د زكات څخه نور مال هم واجب كيدلاى سي ، او دغه مسلمان به يې وهغه مستحقينو ته ور كوي .

وذكر الطبري في "جامع البيان" ٣/ ٣٤٨ عن بعضهم أن في المال حقوقًا تجب سوى الزكاة، واعتلّوا لقولهم ذلك بهذه الآية: {لَيْسَ الْبِرَّ ... } [البقرة: ١٧٧] وقالوا: لما قال الله تبارك وتعالى: {وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى} ومن سمى الله معهم، ثم قال بعد: {وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ} علمنا أن المال الذي وصف المؤمنين به أنهم يؤتونه ذوي القربى ومن سمى معهم غير الزكاة التي ذكر أنهم يؤتونها، لأن ذلك لو كان مالًا واحدًا لم يكن لتكريره معنى مفهوم.

وانظر كلاما نفيسًا لابن حزم في كتابه "المحلى" في وجوب غير الزكاة في المال ٦/ ١٥٦ - ١٥٩

١ -«اخرجه الترمذي في سننه ت» (٣/ ٣٩) (٢- ٦٥٩) ط: شاكر ، بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ فِي المَالِ حَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ

تاسو ته معلومه سوه چي د دغه دوو حديثونو په مابين کي په ظاهره اوښکاره تضاد او ضـديت دی ، نو اوس به راسـو تطبيق او موافقې ته ،دلته د دغه دوو حديثونو په مابين کي تطبيق او موافقه په دوو طريقوسره کيږي .

اول : د سند په اعتبار .

دويم : د معنی او ترجمې په اعتبار.

اول د سند په اعتبار دا رنګه تطبيق او موافقه کوو ،چي په کوم حديث کي د زکات څخه ماسـيوا د نور مال واجب کيدل منعه ګرځل سـوي دي ، هغه حديث ضـعيف او منکر دی ؛ ځکه د سند په سلسـله کې يې «ابو حمزه اعور» راغلی دی ، او دا کس امام ترمذي او امام بيهقي او نورو محققينو علماوو ضعيف کړی دی ، او د دې حديث توابع هم له دې حديث څخه ډېر ضعيف دی.

په دې هکله امام جمال الدين الزيلعي (ت ۷٦۲هـ) رحمه الله وايې :

"قَالَ النَّوَوِيّ فِي الْخُلَاصَـــة حَدِيث لَيْسَ فِي المَال حق سُــوَى الزَّكَاة حَدِيث مُنكر ثمَّ نقل كَلَام الْبَيْهَقِيّ برمتِهِ.

وَبِالْجُمْلَةِ فَالْحَدِيث كَيْفَمَا كَانَ ضَـعِيف بِأبي حَمْزَة مَيْمُون الْأَعْوَر ضـعفه التِّرْمِذِيّ وَقَالَ الْبَيْهَقِيّ لَا يثبت إِسْنَاده تفرد بِهِ أَبُو حَمْزَة الْأَعْوَر وَهُوَ ضَعِيف وَمن تَابعه أَضْعَف مِنْهُ".(۱).

او پـه کوم حديـث کي چي د زکـات څخـه ماسـيوا دنور مال واجب کېدل روا او جائز بلل سوی دی ، هغه حديث صحيح دی، نه ضعيف او نه منکر دی ، نو د دغه دوو حديثونو په

۱ - «تخريج أحاديث الكشاف» (۱/ ۱۰۷).

مابين کي دا رنګه تطبيق وسو، چې د دغه دوو حديثونو په مابين کي په واقعيت کي هيڅ قسم ضديت او تضاد نه ستـه؛ځکه دغه اول حديث منکر او ضعيف دی او هغه بل حديث صحيح دی ، نو د منکر او صحيح په مابين کي مقابله او ټکر نه سي راتلای،بلکي په صحيح حديث عمل کيږي او منکر حديث پرېښودل کيږي.

دويم د معنی په اعتبار سره دا رنګه تطبيق کوو ، که چيري موږ دا ومنو چي دغه دواړه حديثونه صحيح دي ، بيا وايو چي په مال کي د حق واجب کيدل دوه قسمه دي .

اول قسم يې دا دی چي دغه حق په مال کي اصلاً واجب وي ،يعني: الله (جل جلاله) پرده دغه شی واجب کړی وي، لکه : زکات او نور ....

دويم قسم يې دادی چي اصلاً خو واجب نه وي بلکي عارضةً واجب وي ، يعني: دی يې پر خپل ځان واجب وګرځوي لکه: د بنديانو ازاده ول، د مريض پوښتنه کول، د امسايه او ځنګلوري حق ادا کول او نور ...

ودغه تطبيق ته زموږ د مذهب ډيرو علماوو کرامو او فقهاوو عظامو او د حديثو شارحونو ميلان کړی دی، چي موږ يې د نمونې په شکل يوڅه عبارتونه ذکر کوو.

زموږ د مذهب مشهوره محقق العلامة زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي بن زين العابدين الحدادي ثم المناوي القاهري (ت ١٠٣١هـ) فرمايي:

(إن في المال لحقا سوى الزكاة) كفكاك الأسير وإطعام المضطر وسقي الظمآن وعدم منع الماء والملح والنار وانفاذ محترم أشرف على الهلاك ونحو ذلك قال عبد الحق فهذه حقوق قام الإجماع على وجوبها وإجبار الأغنياء عليها فقول الضحاك نسخت الزكاة كل حق مالي ليس في محله وما تقرر من حمل الحقوق الخارجة عن الزكاة على ما ذكر هو اللائق الموافق لمذهب الجمهور وله عند جمع من السلف

محامل لا تلائم ما عليه المذاهب المستعملة الآن فذهب أبو ذر إلى أن كل مال مجموع يفضل عن القوت وسداد العيش فهو كنز وأن آية الوعيد نزلت فيه وعن علي كرم الله وجهه أربعة آلاف نفقة وما فوقها كنز وتأول عياض كلام أبي ذر على أن مراده الإنكار على السلاطين الذين يأخذون لأنفسهم من بيت المال ولا ينفقونه في وجوهه وقال النووي هذا باطل لأن سلاطين زمنه لم تكن هذه صفتهم ولم يخونوا إذ منهم الخلفاء الأربعة رده الزين العراقي بأنه أراد بعض نواب الخلفاء كمعاوية وقد وقع بينه وبين أبي ذر بسبب ذلك ما أوجب نقله إلى المدينة وهذا الحديث له عند مخرجه الترمذي تتمة وهي ثم تلا {ليس البر أن تولوا وجوهكم قبل المشرق والمغرب} الآية وطريق الاستدلال بها أنه تعالى ذكر إيتاء المال في هذه الوجوه ثم قفاه بإيتاء الزكاة فدل على أن في المال حقا سوى الزكاة قال الطيبي: والحق حقان حق يوجبه الله على عباده وحق يلتزمه العبد على نفسه الزكية الموقاة عن الشح الذي جبلت عليه وإليه الإشارة بقوله على حبه أي الله أوجب الطعام وأنشد:

تعود بسط الكف حتى لوانه. . . ثناها لقبض لم تطعه أنامله»(١).

همدارنگه بل ڠاي فرمايڤ:

(لَيْسَ فِي المَال حق سوى الزَّكَاة) أَي لَيْسَ فِيهِ حق سواهَا بطرِيق الاصالة وَقد يعرض مَا يُوجب كوجود مُضْطَر فَلَا تدافع بَينه وَبَين خبر ان فِي المَال حَقًّا سوى الزَّكَاة (هـ عَن فَاطِمَة بنت قيس) وَضَعفه النَّوَوِيّ وَغَيره.(٢).

---

١ – فيض القدير» (٢/ ٤٧٢) (٢٣٣٣).

٢ – التيسير بشرح الجامع الصغير (٢/ ٣٢٦)

همدارنګه علامة علي بن سلطان محمد المشهور بالملاعلي القاري (ت ۱۰۱۴هــ) فرمايي:

دې چې پـه دغه وخت کې به پـه بيت المال کې دونه مال موجود نه وي چې د دغه حکومت بستـه وکړي او کارونه مختـه پـه يو وړل سي .

دوهم قسم :

دويم قسـم يې پـه نامه «النوائب» يا د «مايضرب به الامام» يا «الضرائب» تر عنوان لاندي ذکر کړې ده ، چې دا هم همدغه ماليې يا ګمرک ته ورته د وخت يوه اصطلاح ده ، او په جواز يې قول کړی دی ، چې دا هم مشروط دی پـه دې چې پـه منفعت عامه کې به اسـتعماليږي ، او ظالمانه به نه وي ، که چيري همداسـي وي ، بيا يې ورکول واجب بللي دي ، ځکه دا يې د هر فرد پـه ذمه د امير پـه امر واجب بللی دی او د ماليې هم يو مصرف منافع عامه دي .

فقهاء کرامو د دغه «النوائب» د مشروعيت لپاره دا استدلال نيولی دی چې دا د امير امر دي ، او د امير د امر اطاعت واجب دی پـه هغه څه کې چې مصلحت عامه وي ، خو پـه دغه نوائب يا ديته ورته شی کې هم د عام ولس ګټه او فائده ده .

علامة او مجتهد د مذهب ، کمال الدين محمد المعروف بابن الهمام –رحمه الله تعالی– (المتوفی: ۸٦۱هـ) ليکلي دي :

وأما النوائب فإن أريد بها ما يكون بحق ككري النهر المشـترك) للعامة (وأجرة الحارس) للمحلة الذي يسـمى في ديار مصـر الخفير (والموظف لتجهيز الجيش) في حق (وفداء الأسـارى) إذا لم يكن في بيت المال شـيء (وغيرها) مما هو بحق (فالكفالة به جائزة بالاتفاق) لأنها واجبة على كل

مسلم موسر بإيجاب طاعة ولي الأمر فيما فيه مصلحة المسلمين ولم يلزم بيت المال أو لزمه ولا شيء فيه(١).

همدارنګه علامه زين الدين المعروف بابن نجيم المصري -رحمه الله تعالى- (المتوفى: ٩٧٠هـ) ليکلي دي :

وأما النوائب فجمع نائبة وفي الصحاح النائبة المصيبة واحدة نوائب الدهر. اهـ.

وفي اصطلاحهم قيل أراد بها ما يكون بحق كأجرة الحراس وكري النهر المشترك والمال الموظف لتجهيز الجيش وفداء الأسرى وقيل المراد بها ما ليس بحق كالجبايات التي في زماننا يأخذها الظلمة بغير حق فإن كان مراده هو الأول جازت الكفالة بها اتفاقا؛ لأنه واجب مضمون(٢).

همدارنګه علامه صدر الشريعة عبيدالله بن مسعود الحنفي -رحمه الله تعالى- (المتوفى: ٧٤٧هق) ليکلي دي :

(و) صح كفالة (النوائب) جمع نائبة، وهي ما ينوب الإنسان ويطالب به: إما بحق: كأجرة الحارس المشترك، وكري النهر المشترك، وما وظفه الإمام عند الحاجة إلى تجهيز جيش لقتال المشركين، أو إلى فداء أسارى المسلمين في وقت خلو بيت المال، وهذا النوع تصح الكفالة به بالاتفاق، لأنه مال مضمون.(٣).

---

١ - «فتح القدير» (٧/ ٢٢٢) ط : الحلبي

٢ - «البحر الرائق» (٦/ ٢٥٩).

٣ - شرح الوقاية (٦/ ٧٨).

او همدارنګه د ټلورو مذاهبو تګړه او مشهوره علماؤ کرامو کتاب «الموسوعة» ليکي:

٦ – ما فرض على الناس من هذه النوائب إما أن يكون بحق أو بغير حق :

فإن كان بحق ، كالأموال التي يفرضـها الإمام على الناس لتجهيز الجيش أو فداء الأسـارى إذا لم يكن في بيت المال شـيء ، فهذا لا يجوز الامتناع عن أدائه ، بل هو واجب الأداء ؛ لأنه مصـلحة عامة لجميع المسلمين ، فقد نقل ابن عابدين عن الغنية : قال أبو جعفر البلخي : ما يضربه السلطان على الرعية مصـلحة لهم يصير دينا واجب الأداء وحقا مستحقا كالخراج ، وقال مشايخنا : وكل ما يضربه الإمام على الناس لمصلحة لهم فالجواب هكذا ، حتى أجرة الحراس لحفظ الطريق ونصب الدروب وأبواب السـكك ، ثم قال : فعلى هذا ما يؤخذ في خوارزم من العامة لإصـلاح مسـناة الجيحون أو الربض ونحوه من مصـالح العامة هو دين واجب الأداء ، لا يجوز الامتناع عنه وليس بظلم ، قال ابن عابدين : وينبغي تقييد ذلك بما إذا لم يوجد في بيت المال ما يكفي لذلك (١).

زموږ د مذهب خاتمة المحققين علامه محمد امين ابن العابدين الشامي – رحمه الله تعالى– (ت ١٢٥٢ه ق) داسي ليکلي دي :

وأصـله في القنية حيث قال وقال أبو جعفر البلخي ما يضـر به السـلطان على الرعية مصـلحة لهم يصـير دينا واجبا وحقا مستحقا كالخراج، وقال مشايخنا وكل ما يضربه الإمام عليهم لمصلحة لهم فالجواب هكذا حتى أجرة الحراسـين لحفظ الطريق واللصوص ونصب الدروب وأبواب السكك وهذا يعرف ولا يعرف خوف الفتنة ثم قال: فعلى هذا ما يؤخذ في خوارزم من العامة لإصـلاح

---

١ – الموسوعة الفقهية الكويتية (٤٢/ ٨) حكم أداء ما فرض على الناس بسبب النوائب

مسناة الجيحون أو الربض ونحوه من مصالح العامة دين واجب لا يجوز الامتناع عنه، وليس بظلم ولكن يعلم هذا الجواب للعمل به وكف اللسان عن السلطان وسعاته فيه لا للتشهير حتى لا يتجاسروا في الزيادة على القدر المستحق اهـ.قلت: وينبغي تقييد ذلك بما إذا لم يوجد في بيت المال ما يكفي لذلك لما سيأتي في الجهاد من أنه يكره الجعل إن وجد فيء(١).

يعني: ابو جعفر بلخي – رحمه الله – وايې چې امير د خپل رعيت د مصلحت دپاره پر هغوی کوم ټيکس وضع کړي" نو دا هم د خراج په څېر يو واجب حق ګرځي او زموږ مشائخو ويلي دي: امير چې د خپل ولس د مصلحت په خاطر پر هغوی کوم ټيکس ولګوي، د هغې حکم هم همداسې دی، تر دې چې له غلو د لارې ساتونکو، او د لارو جوړونو او د لويو لارو د دروازو جوړولو أجرت هم همدا حکم دی، او دا خبره بايد له ياده ونه اېستل شي. خو له دې امله چې د فتنې وېره ده؛ نو ځکه بايد دا خبره ډېره مشهوره نه کړل شي. بيا هغه وويل چې د دې اصولو سره سم په "خوارزم" کې د عامو خلکو څخه د جيحون سيند غاړو او فصلونو د دېوالونو د بيا جوړونې او دېته ورته نورو مصلحتونو دپاره چې ولس ته کومه حق الزحمه ورکول کيږي، دا يوه ديني فريضه ده چې له دې څخه تېښته ناروا ده، او دا ظلم هم نه دی ؛خو دا مسئله عملي کول او د پاچا او د هغه د کارکونکو په اړه له بدو ويلو د ځان ساتلو په موخه بايد په علم کې وساتل شي، خو دا د شهرت خبره نه ده چې په دې سره چارواکي د زياتو غوښتنو جرأت وکړي.

١ – « رد المحتار » (٢/ ٣٣٧) كتاب الزكوة قبل باب المصرف ط: الحلبي.

علامه شامي – رحمه الله تعالى – د دې عبارت رانقل کولو وروسته داسې وايې : زه وايم : دا مسئله بايد له دې شرط سره وتړل شي چې کله په بيت المال کې دومره څه نه وي چې د دوی اړتياوې پوره کړای شي.

همدارنګه د افغانستان د اسلامي امارت مرکزي دارالافتاء په تېره دوره کي فتوی ورکړې ده په جواز د اخيستلو د هغو مالونو چې په منافع عامه او د ملک په مصلحت کي مصرفيږي ، چې هغه وخت د مرکزي دارالافتاء سرپرستي شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا نور محمد «ثاقب» صاحب کوله ،(چې اوس د حج اوقاف وزير دی) او په څنګ کي برجسته او تکړه علماؤ ورسره وه ، چې يو يې د نن وخت قاضي القضات شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا عبدالحکيم «الحقاني» صيب دی ، چې په همدغه فتوی کي د ده امضاء هم سته ، چې د فتوی متن يې په لاندي ډول دي .

«امام چي په رعيت باندي کوم شی مقرر کړي ، د دپاره مصلحت او فائدی د رعية نو داشیئ حق او واجب ګرځي پر رعية باندي ، او کار ظلم نه بلل کيږي او د رعية د طرفه امتناع جائز نه ده ، خو دا هغه وخت چي په بيت المال کي دومره مال موجود نه وي چي د دې کار دپاره کافي کيږي اوکه په بيت المال کښي د دی کار د کفايت دپاره مال موجود وو ، نو دا کار دی د بيت المال څخه وشي (۱) .

---

۱ –بدر الفتاوی :۳۹۳/۱ دتميز مسائل ص/۴۷).

د دغه قسم نوائبو اوضريبو څخه هم ډېرو فقهاؤ يادونه کړې ده ، چې موږ صرف په همدغه عباراتو کفايت کوو ،دنورو عباراتو لپاره زموږ د فقهاوو کرامو او علماوو عظامو کتابونو ته مراجع وکړئ.

د مالياتو په اړه د نړۍ د معتبرو علمي تحقيقاتو نظرونه :

(۱)حضرت مولانا مفتي رشيد احمد لدهيانوي –رحمه الله تعالى– په خپل کتاب احسن الفتاوى (۹۹/۸) صفحه کي تر دغه (مختلف ٹیکسوں کاحکم) عنوان لاندي فرمايې:چې دغه ټيکسونه ټول ناجائز دي او د دغه ټيکسي نظام سره کار کول هم ناجائز دی ، اما که ضرورت وي بيا په دغه لاندي شرائطو سره حکومت ته ټيکس مقرر کول جائز دی .

(اول شرط):حکومت به د ټيکس په مصرف کولو کې له زيات اصراف او تبذير څخه پاک وي.

(دوهم شرط):دملازمينو په تنخوا کې به له زياتوب څخه ځان ساتي، بلکې په مناسبه اندازه سره به تنخوا ورمقرره کوي.

(دريم شرط) : ټيکس به د هر شخص د حال د لحاظ کولو مطابق ورباندي ايږدي.

(څلورم شرط) : په بيت المال کې به مال موجود نه وي.

(پنځم شرط) : دومره ټيکس دې کښېښودل شي چې يوازې ضرورتونه رفعه کړي، ترڅو په بيت المال کې پراخي راشي.

خو دا هرڅه هغه وخت دی چې واکمن کسان له خپلې عیاشۍ او بې ځایه مصرفونو ځان وساتي، په ښه نیت د رښتونې اړتیا سره سم څه ناڅه ټیکس وضع کړي.

همدارنګه مفتي صاحب -رحمه الله تعالی- بل ځای فرمايي: چې ټیکس یا ګمرک دملک پر صادراتو اخیستل شرعاً ناجائز دی، لیکن پر وارداتو بیا د ضرورت په وخت کې جائز دی.

(۲) همدارنګه حضرت مولانا شهید سمیع الحق صاحب - تقبله الله تعالی - په خپل کتاب (فتاوی حقانیه: ج۲، ص۳۳۸ اردو) کې تر دغه عنوان (حکومت کی طرف سے لگائے گئے ٹیکسوں کی شرعی حیثیت) لاندې فرمايي:

خلاصه یې دا ده، چې د مسلمان په مال کې ما سیوا د زکات څخه نور حق هم واجب کیدای سی، او د وخت حاکم ته دا جواز سته چې د ډیر ضرورت په وخت پر خپل رعیت او ماتحت خلکو باندې ټیکس او محصول کښېږدي، اما که ډیر ضرورت نه وي، بیا پر خلکو باندې ټیکس او ګمرک ایښوول په هیڅ صورت کې جواز نه لري؛ اردو عبارت یې په حاشیه مکمل کتلای سی (۱).

1 -وفي (فتاویٰ حقانیہ: ج۲، ص۳۳۸) حکومت کی طرف سے لگائے گئے ٹیکسوں کی شرعی حیثیت

سوال:۔آج کل ملک میں تقریباً ہر طرف ٹیکسیشن کا نظام رائج ہے، کہیں انکم ٹیکس، ٹریڈ ٹیکس، کسٹم ڈیوٹی، سیلز ٹیکس ہے تو کہیں آبکاری ٹیکس کی شکل میں یہ عوام پر نافذ ہے، تو کیا شریعتِ مطہرہ حکومت کو زکوٰۃ اور صدقات کے علاوہ رعایا پر مزید ٹیکس لگانے کی اجازت دیتی ہے یا نہیں؟

الجواب :شریعتِ مطہرہ میں صاف طور پر یہ پتہ چلتا ہے کہ مسلمانوں پر زکوٰۃ کے علاوہ بھی مال خرچ کرنے کی ذمہ داریاں عائد ہوتی ہیں، اللہ تبارک وتعالیٰ کے اس ارشاد سے ظاہر ہے کہ اغنیاء کے اموال میں فقراء اور مساکین کا حصہ موجود ہے۔ قولہ تعالیٰ: وَ فِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ۔ (سورۃ الذّٰریٰت:آیت۱۹)

امام ابو بکر جصاص رحمہ اللہ اس آیت کی تفسیر میں فرماتے ہیں کہ مال میں زکوٰۃ کے علاوہ بھی حق ہے، اور انہوں نے اس بات پر اُمت کا اجماع نقل فرمایا ہے، فرماتے ہیں:۔

فقال ابن عمر والحسن والشعبی ومجاہد ہو حق سوی الزکوٰۃ واجب فی المال... قال ابوبکر ہٰذہ الاخبار کلہا مستعملۃ وفی المال حق سوی الزکوٰۃ باتفاق المسلمین۔ (احکام القرآن للجصاص:ج۳،ص۵۰۵، ۵۰۶، سورۃ الذّٰریٰت)

اس کے علاوہ حکومت وقت پر لازم ہے کہ وہ اپنا دفاعی نظام مستحکم رکھے، اسی طرح رفاہِ عامہ کے کاموں مثلاً ہسپتال، مسافر خانوں اور سڑکوں وغیرہ کے لئے مخصوص فنڈ مقرر کرے، فقراء ومساکین اور یتیموں کا خصوصی خیال رکھے، اگر بیت المال خالی ہو تو دفاعی نظام کے اخراجات کے لئے حکومتِ وقت اَغنیاء پر محدود انداز میں کچھ تھوڑا سا ٹیکس لگا سکتی ہے لیکن یہ ٹیکس اتنا زیادہ نہیں لگایا جائے گا کہ وہ ظلم کی حد تک پہنچ جائے۔ امام غزالی رحمہ اللہ فرماتے ہیں:۔

أما إذا خلت الأيدی من الأموال ولم يكن من مال المصالح ما يفی بخراجات العسكر ولو تفرق العسكر واشتغلوا بالكسب لخيف دخول الكفار بلاد الإسلام أو خيف ثوران الفتنة من أہل العرامة فی بلاد الإسلام فيجوز للإمام أن يوظف على الأغنياء مقدار كفاية الجند۔ (المستصفٰی للامام غزالیؒ:ج۱،ص۳۰۴)

اس سے معلوم ہوتا ہے کہ حاکمِ وقت ضرورت کے تحت مالدار لوگوں پر ٹیکس لگا سکتا ہے، تاہم اس سے یہ بات ثابت نہیں ہوتی کہ موجودہ دور میں ٹیکسیشن کا سارا نظام صحیح ہے، اس لئے کہ آج کل ٹیکسوں کا جو نظام ہے اس میں بعض ٹیکس غیر شرعی ہیں اور اسی طرح عام طور پر ٹیکسوں کی شرح فیصدی اتنی زیادہ ہے کہ عام انسان کی قوتِ برداشت سے باہر ہے، شریعتِ مقدسہ نے ٹیکسوں کی شرح کو زکوٰۃ کی شرح مقدار سے زیادہ نہیں بڑھایا ہے۔ امیر المومنین حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ نے حضرت انس رضی اللہ عنہ کو ایک جگہ ٹیکس کی وصولی کے لئے بھیجا تو ان کو یہ حکم فرمایا کہ مسلمانوں سے چالیسواں حصہ اور ذمیوں سے بیسواں حصہ اور حربیوں سے دسواں حصہ وصول کر لیا کرو۔

قال الامام ابویوسف رحمہ اللّٰہ: فان عمر بن الخطابؓ وضع العشور فلا بأس باخذہا اذا لم يعتد فيہا على النّاس ويوخذ باكثر ممّا يجب عليہم... قال وحدثنا ابوحنيفہؒ عن القاسم عن انس بن سيرين عن انس بن مالک قال بعثنی عمر بن الخطاب رضی اللّٰہ عنہ على العشور وكتب لی عہدًا ان اخذ من المسلمين بما اختلفوا فيہ لتجارتہم ربع العشر ومن اہل الذّمۃ نصف العشر ومن اہل الحرب العشر۔ (كتاب الخراج:ص۱۳۴، فصل فی العشور)

قال الامام ابن حزم الظاہریؒ:قال ابومحمدؒوفرض على الاغنياء من اہل كل بلدان يقوموا بفقرائہم ويجبر ہم السلطان علٰی ذٰلک ان لم تقم الزكٰوۃ بہم ولا فئی سائر اموال المسلمين بہم فيقام لہم بما يأكلون من القوت الذی لا بد منہ ومن اللباس للشتاء والصيف بمثل ذٰلک ....بر ہان ذٰلک قولہ:''وَاٰتَ ذَالْ قُرْبٰی حَقَّہٗ وَالْمَسٰكِيْنَ۔(المحلّٰی:ج۲،ص۴۵۲،۴۵۳،رقم۷۲۵،كتاب الزكوٰۃ۔قسم الصدقات)

(۳)همدارنګه د دین اسلام معتمد او معتبر مرکز، د پاکستان دولت په کراچي ښار کي واقع، دبنوري ټاون دارالافتاء ددغې مسألې په هکله تر دغه عنوان (ٹیکس کی شرعی حیثیت) لاندي داسي لیکي، چي خلاصه یې داده: دمنفعة عامه (هغه کارونه چي فائده یې ټول ولس ته راځي، لکه: پولونه، سړکونه، مدرسې او نور...) کارونو لپاره، درسول الله -صلى الله عليه وسلم- او خلفاء راشدینو په زمانه کي به دبیت المال څخه پیسې ور کول کېدلې، او په هغه زمانه کي به په بیت

آج کل ملک کے ہر کونہ میں چونگی ٹیکس وصول کیا جاتا ہے جسے ضلع ٹیکس کے نام سے یاد کیا جاتا ہے، شریعتِ مطہرہ میں اس قسم کے ٹیکس کا کوئی جواز نہیں ہے بلکہ صراحتاً اس کا عدم جواز نقل کیا گیا ہے۔ قاضی ابو یعلی رحمہ اللہ اس قسم کے ٹیکس کے بارے میں فرماتے ہیں کہ ایک ملک کے اندر ایک علاقے سے دوسرے علاقے کو اشیاء منتقل کرنے پر جو ٹیکس وصول کیا جاتا ہے شریعت نے اس کو حلال قرار نہیں دیا ہے بلکہ اس قسم کا ٹیکس حرام ہے اور عادلانہ سیاست کے بالکل منافی ہے اور اکثر یہ ٹیکس ظالموں کے بلاد میں ہوتا ہے۔

قال العلامة قاضی ابی یعلیٰؒ: فامّا اعشار المنتقلة فی دار السلام من بلد الٰی بلد فمحرمة لایبیحها شرعٌ ولایسوغها اجتهاد ولاهی من سیاسیات العدل وقلما تکون الاّ فی بلاد الجائرة ولذلک قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم لایدخل الجنّة صاحب مکس وفی لفظ اُخر ان صاحب المکس فی النّار یعنی الناشر وفی لفظ آخر اذا لقیتم عاشرًا فاقتلوه۔ (الاحکام السلطانیة:ص۲۴۶، فامّا اعشار الاموال)

تاہم ایک ملک سے دوسرے ملک میں مال اور اشیاء منتقل کرنے پر جو کسٹم ڈیوٹی عائد ہوتی ہے اس کے جواز کی گنجائش ہے، لیکن عصرِ حاضر میں بعض ممالک میں کسٹم حد سے زیادہ وصول کیا جاتا ہے اس لئے اس کی مقدار میں اعتدال سے کام لینا چاہیے اور اس قسم کے ٹیکس کو ظلم کی حد تک نہیں بڑھانا چاہیے.

لما قال القاضی ابویعلیٰؒ:إن کان البلد ثغرا یتاخم دار الحرب، وکانت أموالهم اذا دخلت دار الإسلام معشورة عن صلح استقر معهم وأثبت فی دیوان عقد صلحهم وقدر المأخوذ منهم من عشر أو خمس وزیادة علیه أو نقصان منه، و إن کان یختلف باختلاف الأمتعة والأموال فصلت فیه وکان الدیوان موضوعا لإخراج رسومه ولاستیفاء ما یرفع إلیه من مقادیر الأمتعة المحمولة إلیه
(الاحکام السلطانیة:ص۲۴۵، تقدیر العطاء، الفصل السادس)

قال الامام قاضی ابو یوسفؒ:اما العشور فرأیت ان تولیها قوماً من اهل الصلاح والدین وتأمرهم ان لا یتعدوعلی النّاس فیما یعاملو نهم به فلا یظلمو هم ولایأخذ وامنهم اکثر ممّایجب علیهم۔
(کتاب الخراج:ص۱۳۲،فصل فی العشور)

المال کې دونه پیسې هم وي ،چې دغه کارونه په وسي ؛ اما په اوس زمانه کې د بیت المال پیسې دونه نه دي چې دغه کارونه ټول په وسي ، بل خوا دهر نظام کارونه او مصرفونه دومره ډیر دي ، چې تر پخوا یو په لسه دي ، نو په اوس زمانه کې ټول نظامونو هغه که اسلامي وي او که کفري وي ، و ټیکس او ګمرک ته مخه کړې ده ، ځکه که هر حکومت او نظام ټیکس او ګمرک پر خپل خلګو کښې نه ږدي ، کیدلای سي چې نظام او حکومت یې د سقوط سره مخ سي ، نو بنا بر دغه ضرورت چې په اوس زمانه کې هیڅ نظام هم بغیره ټیکسه پر مختګ نه سي کولای ،نود اسلامي حکومت او نظام لپاره دا جواز سته چې پر خپلو خلګو دونه ټیکس او محصول کښېږدي چې د دوی نظام د سقوط څخه وساتل سي؛ چې اردو عبارت یې په لاندي ډول سره دی (۱).

---

۱ -سوال

۱- میں سعودی عرب میں مقیم ہوں، یہاں ہم کھانے پینے کی اشیاء سمیت ہر چیز پر پانچ فیصد ٹیکس ادا کرتے ہیں تو کیا یہ پانچ فیصد ٹیکس جو حکومت ہم سے وصول کرتی ہے یہ سود کے زمرے میں آتا ہے یا نہیں؟

۲- جو موجودہ حکومتِ پاکستان نے ایک قرضہ اسکیم متعارف کروائی ہے کیا وہ بھی سودی نظام ہے؟

جواب

۱) کسی بھی مملکت اور ریاست کو ملکی انتظامی امور چلانے کے لیے،مستحقین کی امداد، سڑکوں، پلوں اور تعلیمی اداروں کی تعمیر، بڑی نہروں کا انتظام، سرحد کی حفاظت کا انتظام، فوجیوں اور سرکاری ملازمین کو مشاہرہ دینے کے لیےاور دیگر ہمہ جہت جائز اخراجات کو پورا کرنے کے لیے وسائل کی ضرورت ہوتی ہے، اوران وسائل کو پورا کرنے کے لیے نبی کریم صلی الله علیه وسلم، خلفاء راشدین رضوان اللہ علیہم اجمعین کے مبارک عہداور ان کے بعد کے روشن دور میں بیت المال کا ایک مربوط نظام قائم تھااور اس میں مختلف قسم کے اموال جمع کیے جاتے تھے،مثلاً:

۱۔ ''خمسِ غنائم'' یعنی جو مال کفار سے بذریعہ جنگ حاصل ہو اس کے چار حصے مجاہدین میں تقسیم کرنے کے بعدباقی پانچواں حصہ۔

۲۔ مالِ فیئ یعنی وہ مال جو بغیر کسی مسلح جدو جہد کے حاصل ہو۔

۳۔ ''خمسِ معادن''یعنی مختلف قسم کی کانوں سے نکلنے والی اشیاء میں سے پانچواں حصہ۔

٤۔ ''خمسِ رکاز '' یعنی جو قدیم خزانہ کسی زمین سے برآمد ہو ، اس کا بھی پانچواں حصہ۔

٥۔ غیر مسلموں کی زمینوں سے حاصل شدہ خراج اور ان کا جزیہ اور ان سے حاصل شدہ تجارتی ٹیکس اور وہ اموال جو غیر مسلموں سے ان کی رضامندی کے ساتھ مصالحانہ طور پر حاصل ہوں۔

٦۔ ''ضوائع'' یعنی لا وارث مال ، لاوارث شخص کی میراث وغیرہ۔

لیکن آج کے دور میں جب کہ یہ اسباب و وسائل ناپید ہوگئے ہیں تو ان ضروریات اور اخراجات کو پورا کرنے کے لیےٹیکس کا نظام قائم کیا گیا؛ کیوں کہ اگر حکومت ٹیکس نہ لے تو فلاحی مملکت کا سارا نظام خطرہ میں پڑ جائے گا۔ البتہ اس میں شک نہیں کہ مروجہ ٹیکس کے نظام میں کئی خرابیاں ہیں، سب سے اہم یہ ہے کہ ٹیکس کی شرح بعض مرتبہ نامنصفانہ، بلکہ ظالمانہ ہوتی ہےاور یہ کہ وصولی کے بعدبے جا اسراف اور غیر مصرف میں ٹیکس کو خرچ کیا جاتا ہے،لیکن بہرحال ٹیکس کے بہت سے جائز مصارف بھی ہیں؛ اس لیے امورِ مملکت کو چلانے کی خاطر حکومت کے لیے بقدرِ ضرورت اور رعایا کی حیثیت کو مدِّ نظر رکھ کر ٹیکس لینے کی گنجائش نکلتی ہے۔

اوپر ذکر کردہ تفصیل کے مطابق اگر حکومت کے جائزمصارف دیگر ذرائعِ آمدنی سے پورے نہیں ہوتےتو چند شرائط کے ساتھ حکومت کو اپنے مصارف پورا کرنے کے لیے ٹیکس لینےکی اجازت ہوگی:

۱۔ بقدرِ ضرورت ہی ٹیکس لگایا جائے۔

۲ ۔لوگوں کے لیے قابلِ برداشت ہو۔

۳۔وصولی کا طریقہ مناسب ہو۔

٤۔ ٹیکس کی رقم کو ملک و ملت کی واقعی ضرورتوں اور مصلحتوں پر صرف کیاجائے۔

جس ٹیکس میں مندرجہ بالا شرائط کا لحاظ نہ کیا جاتا ہو تو حکومت کے لیے ایسا ٹیکس جائز نہیں، اور ایسا ٹیکس لینے والوں کے متعلق احادیث میں وعید آئی ہے۔

۲) مذکورہ قرضہ اسکیم میں اگر سودشامل ہو یعنی سود خود ادا کرنا پڑے، یا سودی معاہدہ کرنا پڑے، تو ایسی صورت میں مذکورہ اسکیم سے قرضہ حاصؒل کرنا جائز نہیں ۔ کسی خاص اسکیم کی مکمل شرائط اور معاہدہ بھیجا جائے تو اس کے مطابق فتوی دیا جاسکتا ہے۔ فقط واللہ اعلم

فتوی نمبر : ١٤٤١٠٢٢٠٠١٠٥

دارالافتاء : جامعہ علوم اسلامیہ علامہ محمد یوسف بنوری ٹاؤن

معاملات/ حقوق / استحقاق/ ذخیرہ اندوزی

(۴)او په دې اړه «جدید فقهي مسائل» داسي ليکي :

حکومت دوه قسمه ټيکس يا ماليات له عوامو څخه اخلي يو هغه منصفانه ټيکس چې دهغې په اسلام کې هم ګنجايش شته مثلاً د ابو،برق ،سړک ،پارک ،روغتون اونور په بدل کې چې کوم ټيکسونه اخلي نومونږ يې وينو چې هغه فايده بيرته مونږ ته راځي.

بل غير عادلانه اوناواجب ټيکسونه دي چې يو کس په خوارۍ اومحنت سره مال ګټلی وي او بيا ترې نه د اجتماعي مفاد د پاره په سلو کې څه حصه په ناروا اخلي(۱).

(۵)په دې اړه د فتاوی اهل سنت وجماعت د فتوا فارسی متن په لاندې ډول دی :

گرفتن مال مردم بعنوان ماليات به اجماع علماء حرام است و از گناهان کبيره است، جه از دولت ايران باشد و جه غيره، و کسانی که امروزه مال مردم را بعنوان ماليات ميگيرند حرام است زيرا مال مردم را به نا حق ميگيرند ، پيامبر صلی الله عليه و سلم در مورد زن غامدية که بعلت زنا رجم شد فرمودند :

«لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ»(۲).

يعنی: "او توبه ای کرد که اگر صاحب مُکس (ماليات) نيز چنين توبه ای کرده بود گناهانش آمرزيده ميشد". امام نووی در مورد اين حديث گفت: "اين حديث

---

1 -(جدید فقهي مسائل ج۱ص ۲۸۰).

۲ -(روايه مسلم ۱٦۹۵)

دلیل بر اینست که مالیات گرفتن از زشترین و بد ترین گناهان است"، و امام شوکاني در "نیل الأوطار" گفت: "صاحب المکس کسی است که مالیات را به نا حق از مردم میگیرد". بنابراین جائز نیست که به دولت ایران و یا هر کشور دیگر مالیات پرداخت شود، مگر اینکه مجبور باشد، که در اینصورت گناهش بر گردن گیرنده است، و چنانچه بتواند به طریقی از زیر بار مالیات بیرون رود اشکالی ندارد، تا مالش به ناحق گرفته نشود. والله تعالی اعلم.

(۶)همدا رنګه حضرت مولانا مفتي عزيز الرحمن صاحب په خپل کتاب، فتاوی دارالعلوم ديوبند کي تر دغه عنوان « کومې روپی چې حکومت يې د يو مسلمان نه په ظالمانه ټيکس اخلي»لاندې په ج۲ ص ۸۸۷–۸۸۸ کې بحث کړی.

(۷) او همدارنګه حصرت مولانا مفتي کفايت الله صاحب هم په خپل کتاب کفايت المفتي ۸ جلد او ۷۸–۷۹ صفحو بحث کړی دی.

چې د هغه ټول وضاحت او خلاصه داده: چې د حکومت لپاره دضرورت په وخت دا جواز سته چې پر خلکو باندي ټيکس او محصول کښېږدي، اما که ضرورت نه وي بيا جواز نه لري.

<u>خو يوه خبره د يادوني وړده</u>: له دې امله چې په اوسنيو واکمنو کې د دې شرطونو سهي پابندي ګرانه برېښي؛ نو ځکه ډير عالمان او مفتيان له داسې ډول ماليې او محصول لګولو ځان ګوښه کوي، او که د اړتيا پروخت اجازه ورکوي؛ نو له ډېرو شرطونو سره يې ورکوي، اوس به موږ تاسو ته يو دوې واقعې نقل کړو، او دا به

تاسو ته معلومه سي ، چي په دغه موضوع کي زموږ علماء کرامو او متقدمينو څومره احتياط کوي، او زموږ څه حال دي .

کله چې تاتاريانو پر اسلامي نړۍ يرغل پيل کړ ، او پاچا ته د جګړې د لګښتونو دپاره د مال اړتيا پيښه شوه ؛ نو ده غوښتل له تجارانو پورونه واخلي او څه ناڅه ماليه ورباندې ولګوي . د دې دپاره هغه د عالمانو او قاضيانو غونډه را وبلله . هغه مهال د علماوو مشر شيخ عزالدين بن عبدالسلام – رحمه الله تعالى – و.

هغه پاچا ته مخامخ داسي وينا وکړه :

"کله چې دښمن پر اسلامي هيواد بريد وکړي ؛ نو پر ټولو واجب ده چې له هغوی سره جګړه وکړي ، او تا ته روا ده چي له اولس څخه دومره ماليه ټوله کړې چې ته کولای شې د هغې په مټ او مرسته جهاد وکړې ؛ خو په دې شرط چې په بيت المال کې څه پاتي نه وي ، او خپلې ټولې ګېڼې وپلورې ، او د لښکر هر يوځي په سپرلۍ او وسله بسنه وکړي ، او هغوی په هيواد کې د عامو وګړو په څېر ژوند وکړي . خو که له يوځ سره تر ټولو غوره سامانونه موجود وي او بيا هم دوی له رعيت څخه د مال غوښتنه کوي ؛ نو د دې اجازه نشته"(١).

دغه راز د تاتاريانو د فتنې پر وخت د شام پاچا "ظاهربيبرس" د دښمن سره د مقابلې دپاره له خپل ولس څخه د ماليې ټولولو اراده وکړه ؛ نو علماوو د دې اړتيا پر بنسټ اجازه ورکړه ؛ خو علامه نووي – رحمه الله تعالى – پاچا ته وويل :

١ – النجوم الزاهرة : ج٧ ص٧٢–٧٣، و طبقات الشافعيه للسبکی : ج٨ ص٢١٥.

"ما ته معلومه ده چې ته د "بندقار" د امیر غلام وې، او ستا سره هیڅ مال نه و، بیا الله تعالی پر تا احسان وکړ او ته یې پاچا کړې، او ما اورېدلي ستا سره یو زر(۱۰۰۰) غلامان دي ، او له دوی هر یوه سره د زرو کمربندونه دي، او له تا سره دوه سوه مېنځې دي چې په دوی کې له هرې یوې سره د ګېڼو بنډلونه دي.

اوس که ته دا هر څه مصرف کړې، او له غلامانو سره د ګېڼو کمربندونو پر ځای یوازې د وړۍ جامې پرېږدې، او له مینځو سره یوازې کالي پرېږدې، ګیڼې ورسره نه وي؛ نو زه فتوی در کوم چې ته کولی شې له خپل ولس څخه مالیه ټوله کړې"(۱).

لنډه دا چې د رښتوني اړتیا پر وخت د اړتیا ترکچې د ماليې لګولو اجازه خو ټولو علماوو ورکړې ده، بلکې امام الحرمین علامه جویني - رحمه الله تعالی -چې د نظام الملک طوسي -رحمه الله تعالی - په غوښتنه کوم کتاب لیکلی، او د الغیاثي په نوم یادیږي، په هغه کې نوموړي په ډېر تفصیل سره په یو شمېر برخو کې پر دې موضوع بحث کړی دی، تر دې چې ده ویلي که د بیت المال ځانګړې اړتیا وي بیا داسې ډول مالیې په ځانګړي ډول هم لګولی شي(۲).

خو د دې جواز سره سره علماوو دا اندېښنه تل په پام کې نیولې ده چې داسې نه دا اجازه بې ځایه وکارول شي. په نني حکومتونو کې پر ولس باندې ناروا مالیې وضع کول عام دي، ولسي خزانې په ډېره بې رحمانه توګه کارول کیږي. د ولسي بودیجې زیاتره برخه د واکمنو پر عیاشیو او چړچو مصرف کیږي. بې شمېره داسې حاصلات

۱ - حسن المحاضرة للسيوطي رحمه الله ج۲ص۱۰۵.

۲ - غياث الامم فى تيارات الظلم للجويني رحمه الله ص۲۵۶تر۲۸۶ پورې.

شته چې د هغو هيڅ جوا ز نشته ، بې ځايه کانفرانسونه او بې ګټې سفرونو ، لګښتونه د نه منلو تر کچې رسېدلي . د واکمنو د ماهيو او ودانيو لګښتونه تر کچې اوښتي دي ، د تاسف ځای خو لا دا دی چې اسلامي هيوادونه د ولسي خزانې په بې دريغه کارولو کې تر نامسلمانه هيوادونو ډېر ور اوښتي دي. که له بودېجې د دې بې ځايه او ناروا لګښتونو مخه ونيول شي ؛ نو پر ولس د څو چنده ماليې لګولو اړتيا به کمه شي.

خو د دې حقيقت څخه هم انکار نشي کېدلای چې نوي تمدن ډېر داسې ضروري حاصلات راپيدا کړل چې د عياشۍ په تعريف کې نه شمېرل کيږي ، بلکې په نن وخت کې د يو هيواد د سرلوړي او خپل عزت ساتلو دپاره اړين دي. پخپله امام غزالي – رحمه الله تعالی – پخپل زمانه کې ويلي : چې د غنيمت د پنځمې پنځمه او د فيء مالونه د جهاد اړتياوې نه پوره کوي(۱).

نن حکومتونه زياتره داسې خدمتونه برابر وي چې له دې مخکې حکومتونو په ذمه داسې کارونه نه وه. د بېلګې په ډول : په هيواد کې د برېښنا او ګازو فعالول ، دغه راز نور زيات حکومتي اورګانونه چې مخکې هم وو ؛ خو لګښتونه يې دومره زيات نه وو، نن د هغو لګښتونه لسګونه برابره زيات شوي دي ، مثلا د دفاع دپاره د نوي ټيکنالوژۍ لاس ته راوړنه ، د لويو لارو پخول ، د ترانسپورټ نوي وسائل ، زده کړه او روغتيا ، په دوی کې د هر يوه لګښتونه رښتيا هم ډېر زيات شوي دي ، او په زياترو کې د زکات او عشر مال نه مصرف کيږي . له همدې امله که بې ځايه دوديز مصرفونه ختم هم کړل شي ؛ نو د پورتنيو کارونو د پاره د بيت المال حاصلات له

---

۱ – شفاء الغليل ص۱۱۳.

مشهورو ځايونو څخه ټول لګښتونه پوره کول په ښکاره ډېر ګران برېښي ؛ ځکه چې د زکات او عشر بېلولو وروسته يوازې خراج، جزيه، د غنيمت او فيء مال پاتې کيږي. د خراج حاصلات د ځمکې پر خراجې کېدلو پورې تړلي دي، او د دارالاسلام په ځمکو کې اصل دا دی چې عشري به وي. د جزيې ټاکلی مقدار دومره کم دی چې له هغې څخه کومه لويه لاسته راوړنه ډېره ګرانه ده او د فيء و غنيمت مال خو د جهاد له لارې لاس ته راځي چې اوسني حالات تاسو ته ښه معلوم دي، په نننيو جګړو کې خو ګټونکي هم د ستر اقتصادي بهران سره مخ کيږي. نو که نن چيري سهي اسلامي حکومت قائم شي ؛نو زيات نه زيات پخپل لومړني دور کې دوی ته د "ضرايب النوائب" اړتيا پېښيږي.

هو! که رښتيا هم د تقوا او احتياط څخه کار واخېستل شي، او بې ګټې لګښتونه بند کړل شي نو د دې اندازه به کمه شي، او بيا چې يوازې د الله تعالی د حکمونو پيروي وشي ؛نو د الله تعالی له لورې د داسې برکتونو هېله شته چې د حساب کتاب او د شمېر له کچې به وتلی وي.

الله تعالی (جل جلاله) فرمايي : وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ (١).

ژباړه: او که چيري د دې کليو خلکو ايمان راوړی وای او تقوا يې کړې وای؛ نو پر دوی به مو د اسمان او ځمکې د برکتونو دروازې پرانېستلي وای.

١ -[الأعراف: ٩٦]

نتيجه:

د پورته دلائلو او څېړنو څخه معلومه سوه چې د حکومت لپاره ماليه (ټيکس يا ګمرک) اخيستل جائز دي خو په دغه لاندنيو شرائطو او طريقو سره:

١. چې بيت‌المال به خالي وي ما يکفي مال به نه وي پکښې.
٢. داسې امير به وي چې اطاعت يې واجب وي.
٣. او بل مدرک به هم نه وي، او که وي هم خو کفايت به نه ورته کوي.
۴. د حکومت د احتياج د ختميدا سره سم به دغه ماليه او ټيکس هم ختميږي.
٥. ماليه يا ګمرک به منصفانه وي، يعني: ما يکفي ماليه به اخيستل کيږي، تر ضرورت اضافه به نه اخيستل کيږي.
٦. او ماليه مقررول به د ضرورت په اندازه وي، تر ضرورت زيات مقررول شرعاً جواز نه لري.
٧. د زياتو معاشاتو او نورو مصرفونو مخنوی به کيږي، يعني: حکومت به د ډير اصراف او تبذير څخه پاک وي.
٨. او دغه ماليه اخيستل به د ماليه اخيستونکو د وسعه او توان مطابق وي.

۹. کوم ماليات چې اخيستل کيږي، بايد چې په راټولو او مصرف کې يې له پوره عدالت او انصاف نه کار واخيستل شي؛ يوه روپۍ هم بېځايه ضايع او مصرف نه شي.

۱۰. او د امت او مسلمانانو پر مصالحو باندي بايد مصرف سي، او د امراوو د خواهشاتو مطابق استعمال نه سي.

۱۱. يقيني ضرورتونه به شتون ولري، احتمالي به نه وي.

۱۲. له بېوزلو او فقيرانو څخه ماليات وانه خستل شي.

۱۳. د مالياتو د اخيستنې په اړه د فقهاوو او علماوو سره مشوره وشي، او د دوی د فيصلې او رهبري شوری د هداياتو په اساس ماليات واخيستل شي.

۱۴. د مالياتو اخيستل به دايمي نه وي، بلکه د يوه موقت وخت لپاره ترې کارواخيستل شي.

۱۵. د ماليه او ټيکس د وصولولو طريقه به اسانه وي، او داسي به نه وي چي د مسمانانو د زور او آزار سبب وګرځي.

والله أعلم وعلمه أتم.

دکتونکو څخه پوښتنې او سؤالونه :

محترمو سامعینواو کتونکو او درنو علمایې کرامو او د نن زماني مفتیانو صاحبانو!!!.

موږ چې کله دغه لیکنه وکړه ، نو مو پورته شرائطو ته په کتلو سره ، دغه لاندي سؤالونه مو ذهن او فکر ته راغلل ، نو د ټولو کتونکو څخه هیله کوو چې ددغه سؤالونو په حلولو کښې راسره مرسته او کومک وکړي.

۱-بیت المال څه وخت خالي بلل کیږي ؟

۲-په بیت المال کي چې څونه مال وي کفایت کوي ؟

۳-په نن زمانه کي د حکومت احتیاج څه وخت ختم بلل کیږي ؟

۴-څونه مالیه اخیستل کفایت کوي، او د ضرورت اندازه څومره بلل کیږي ؟

۵-اسراف او تبذیر څه ته وایې، او زیات معاشات او نور مصارف څه بلل کیږي ؟

۶-او س د اسلامي امارت په دور کي زیات معاشات او مصارف څنگه دي ، مخنیوی یې سوی دی او که نه ؟

۷-مصالح کوم دي او خواهشات څه بلل کیږي ؟

۸-یقیني ضرورتونه کوم دي ؟

٩-د بېوزلو او فقيرانو تعين بايد وسي ،چې بېوزل او فقير چا ته وايې ؟

نو کـه د هر مســلمـان ورور پـه ذهن کي د دغه سـؤالونو حل او جوابونه وي ، او دغه سؤالونه پـه صحيح انداز حلکولای او جوابولا سي ، نو موږ يې مننه دويه يو .

د افغانستان د اسلامي امارت فتوی:

د پورته خبرو د لا ښه تائید او ټینګار لپاره، موږ اوس تاسو ته د افغانستان د اسلامي امارت د مرکزي دار الافتاء د علماء کرامو فتوی هم را نقل کوو، د دې لپاره چې یو خو زموږ د خبرو ښه تائید وسي، او دا خبره به ښه ښکاره او روښانه سي ، چې د جعل او ضریبې د جواز لپاره کوم کوم شرائط سته او په فقه حنفي کښې د غه شرائط کوم کوم دي ، او بل هغه علماوو کرامو د غه مسـألـه پـه ډیر ښـه اندازه او د څلورو مذاهبو د علماؤ او کتابونو په حوالو حل کړې ده او دا خبره په هم معلومه سي چې د غه خبره یوازي زموږ مذهب نه ده بلکي د ټول اهل السنة والجماعة اجماع او اتفاق پر دې خبره دی.

دافغانستان اسلامي امارت

مرکزي دارالافتاء

دفتوی ګڼه(۲۰۸)

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء محترمو علماء کرام ته !

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته !

لکه څرنګه چي تاسو ته معلومه ده چي په اوسني وخت کي اقتصادي مشکلات ډير لرو اوس د امارت د لګښت کچه خورا ډيره زياته او لازمي وي مثلا : د زخميانو چي حتما بايد پر وخت شي ورکول شي او نظامي چاري، د بنديانو مصارف او اړونده ادارو لپاره .

او داسي نور نظامي کارونه چي بايد شي پر وخت ور کول سي خو د پيسو د نشتوالي په خاطر يو مهم پلان شنو شي .

د اقتصادي مشکلاتو په خاطر نشو کولای چي د امارت اړوند چاري په وخت اجراء کړو .

<u>لهذا موږ استفتاء کوو:</u>

۱ – چي د افغانستان په مختلفو غير رسمي باډرونو باندي تجارتي مالونه اوړي را اوړي او دا مالونه مختلف اجناس هغه لکه بي اسناده موټران او هندي پان کوږ يا امبار او همدا رنګه ايراني ساماتونه چي په هغه کي تيل او نور داسي اجناس وي او دا ساحي د مجاهدينو په تصرف کي دي کولای سو چي يوه اندازه شي ورباندي حواله کړو تر شرعي عنوان لاندي جواز لري ؟

۲ –د افغانستان پر رسمي باډرونو باندي تيل را وارديږي چي ډيزل ، پټرول او يا مبلين وي دا هم ازاد بازار ته راوزي او بيا حکومت او عوام دواړه استفاده ورڅخه کوي ، يو تعداد شخصي شرکتونه وي هغه قراردادر لري د حکومت د اورګانونو سره او نور بيا آزاد بازار ته راځي او په آزاد بازار کي چي هر څوک وغواړي ورڅخه را تيولای يي سي او مجاهدين هم پر لويو لارو باندي ورسره لاس او ګريوان وي نو که د مذکوره تيلو په هکله يو داسي شرعي جواز وي چي وکولای شو چي يوه اندازه شي ورباندي حواله کړو او د دوی مشکلات هم حل شي او موږ ته هم د اقتصاد يوه منبع شي ؟

۳– د افغانستان په رسمي باډرونو باندي يو تعداد شخصي شرکتونه د(تي يک) په نامه د طيارو تيل را وارد وي د حکومت په ګمرکاتو کي محصوليږي او بيا يي د آزاد بازار ته راوړي په دغه د راوتو په جريان کي يو تعداد شخصي د طيارو شرکتونه قرارداد ورسره لري ، دغه د طيارو شخصي شرکتونه لکه صافي شرکت په داخل او خارج کي پروازونه لري او د حکومتي ، ملکي او نظامي طيارو لپاره هم دغه (تي يک) تيل استفاده کيږي او هم په آزاد بازار کي را تيول کيږي .

ويبکي : ايميل: emarat.daralefta@gmail.com وټس اپ (whatsapp): ۰۰۹۳۷۴۸۰۰۰۴۳۳

نو اوس دغه تیل له یوه ښاره تر بل ښاره پورې د حمل او نقل په صورت کې د مجاهدینو مشکلات وي، مجاهدین یې د حکومتي ټپلو په نامه را ګرځوي او بیا دغه شرکت والا اسناد د امارت په مختلفو ادارو ګرځوي چې دا ثابته کړي چې د دوی شخصي مال دی لهذا موږ استفتاء کوو چې د مذکوره شرکتونو څخه کولای شو یو اندازه شي چې د شریعت مقدس په رڼا کې جواز ولري اخیستلای شو؟ او یا رسما قرارداد ورسره کولای شو چې په مقابل کې یې رسمي جواز ورکړو چې بیا د دوی امنیت تامین وي؟

۴- د اسلامي امارت مجاهدین په ځینې غیر رسمي سرحدونو کې د تجارانو له مالونو څخه محصول اخلي، ځینې وخت تجاران د محصول له ورکړې څخه انکار کوي یا د نورو فرعي لارو څي او یا هم موټرونه غلطوي ایا له دوی سره موږ زور کولای شو او که یې نه شو کولای؟

بینوا توجروا جزاکم الله خیرا و وفقکم

مستفتي:

د اقتصادي او مالي چارو کمیسیون

نیټه: ۲۸/ شوال/۱۴۳۷

د اقتصادي چارو دکمسیون د توجه ور!

د اقتصادي کمیسیون د توجه ور: داچې تاسو محترمین کله د تیلو، کله مېلینو، کله د مخکو او کله د یوه او بل شي په باره کې پوښتنه کوی، د دغه ټولو مسائلو آخیري انجام د ټکس یا ضریبې و مسئلې ته دریږي، موږ تاسو محترمینو ته دغه مسئله په پوره وضاحت د ټولو شرائطوسره د شریعت په رڼا کښې در ته لیکو، نور د مجاهدینو ضروریات او د اولس مصلحتونه تاسو ته تر موږ ښه معلومیږي، که مجاهدینو واقعا ضرورت درلودی، بیایې د دغه شرائطو په موجودګۍ کښې پر کوم شي چې تاسو مناسب و بولئ د غه ضریبة مقرر ولای سی، که د ضرورت په صورت کښې تاسو د مجاهدینو د ضرورتو خیال و نه ساتئ پوښتنه به یې ستاسو څخه کیږي، او که ضرورت نه وُ، تاسو بې ځایه پر کوم مسلمان باندې ټکس ولګوئ، هم به په ورځ د آخرت پوښتنه ستاسو څخه کیږي، په تفصیل کې موږ داخبره کړی او په اجمال کښې یې هم در ته کوو چې د زکات او عشر پیسې د بیت المال په هغه کور کې شرعا نه مصرفیږي چې: د مجاهدینو لپاره د وسائلو خریداري په کیږي، یاد وسائلو لپاره ور کړل کیږي، که وي هم هغه د فقراؤو مجاهدینواو د هغوی د کورنیو او نور مسکینانو حق دی.

نص الفتوى حامدا و مصليا وبالله التوفيق:

د مذکوره مسئلې شرعي حل په دې ډول دی: لکه څرنګه چې ټولو ته معلومه ده چې دغه دنیا د اسبابو دنیا ده، د هر کار کول تر اسبابو پورې تعلق لري، چې یو د دغه کارو څخه جهاد او قتال هم دی چې: بیله اسبابو یې کول او مقصد ته رسیدل د الله جل جلاله قانون او طریقه نه ده، بلکه وسایل او اسباب غواړي، څرنګه چې په نبوي دور کښې مسلمانان نیکان وه، په خپله خوښیې د الله جل جلاله په لاره کښې مالونه مصرفول، څکه نو د ضریبې و

مقررولو ته ضرورت نه ؤ، تر تیبې دور وروسته د خلفاء راشدینو او نورو خلیفه ګانو په دورو کښې اسلامې حکومتونه د جزیې او غنیمتو په اسبابو او وسائلو باندې پوره وه، کله چې د اسلامې خلافتو دورې ختمې سوې ورسره سم هغه د جزیې او غنیمتو اسباب او وسائل هم ختم سول، اسلامې حکومتونه د خپلو ضروریاتو په پوره کولو کښې د خپل رعیت و پیسو ته اړسول، د وخت علماوو داسې فتواوې صادرې کړې چې: ټکس یا ضریبه دوه ډوله ده: اول یې ظالمانه ډول دی کوم چې امراء یې د خپلو خواهشاتو د پوره کولو لپاره پر رعیت باندې ټکس یا ضریبه ږدي.

دوهم ډول یې عادلانه ټکس یا ضریبه ده کوم چې علماء کرامو د څینو شرائطو په وضعه کولو سره جواز ورکړی دی، هغه شرائط په دې ډول دي:

۱ –حکومت به سخت او حقیقي ضرورت د دغه ټکس و پیسو ته لري، د دغه ضرورت د پوره کولو لپاره به نورې لارې د پیسو د ترلاسه کولو یا بالکل لري نه ، یا خو به یې لري خو کفایت به نه ورته کوي، که چیرې فرضا د حکومت احتیاج ختم سو بیا به دغه ټکس بیرته ختموي.

۲ –د ټکس مقررول به پر خلګو باندې منصفانه وي، داسې به نه وي چې: د څینو مساوي افرادو په حق کښې ظلم وسي او د څینو نورو سره نرمي وسي.

۳ –کوم ټکس چې د مسلمانانو څخه اخستل کیږي، هغه به د امت او مسلمانانو پر مصالحو باندې مصرفیږي، داسې به نه وي چې دغه پیسې د امراوو د خواهشاتو مطابق استعمال سي.

۴ –دغه ټکس چې مقررېږي دغه به د رهبري شورى د هدایاتو او د هغوی په مشوره مقررېږي، یوازې زعیم نسې کولای چې د مسلمانانو پر مالونو باندې پر خپل سر ټکس ولګوي.

۵–ټکس به د ضرورت په اندازه مقررېږي، د ضرورت څخه د زیاتې اندازې مقررول شرعا جواز نه لري.

۶ – پر کوم مسلمان چې ټکس مقررېږي، هغه به دومره اندازه وي چې: هغه یې تحمل او برداشت ولري، د برداشت څخه باهر ټکس شرعا جواز نه لري.

۷ –د ټکس د وصولولو طریقه کار به اسانه وي، داسې به نه وي چې: د مسلمانانو د زور او ازار سبب وګرځي.

و اشترط لجواز فرض الضريبة أربعة شروط:

الأول: أن تكون هناک حاجة حقیقیة بالدولة الى المال، و لا یوجد مورد آخر لتحقیق الأهداف و اقامة المصالح دون ارهاق الناس بالتكاليف.

الثاني: أن توزع أعباء الضرائب بالعدل بحيث لا يرهق فريق من الرعية لحساب فريق آخر، و لا تحابي طائفة و تكلف أخرى.

الثالث: أن تصرف الضريبة في المصالح العامة للأمة.

الرابع: موافقة أهل الشورى والرأي في الأمة. حاشية الفقه الاسلامي ج۷ ص۵۰۰۲ طبع: دار احسان، تهران، ایران.

التصرف على الرعية منوط بالمصلحة ، أي: ان نفاذ تصرف الراعي على الرعية و لزومه عليهم شاؤوا أو أبوا معلق و متوقف على وجود الثمرة والمنفعة في ضمن تصرفه، دينية كانت أو دنيوية. فان تضمن منفعة ما وجب عليهم تنفيذه، و الا رد. لأن الراعي ناظر، و تصرفه حينئذ متردد بين الضرر والعبث و كلاهما ليس من النظر في شئ، و المراد بالراعي:

كل من ولي أمرا من أمور العامة، عاما كان كالسلطان الأعظم، أو خاصا كمن دونه من العمال. شرح القواعد الفقهية للشيخ محمد الزرقا. ص۲۰۹ طبع: دار القلم دمشق.

د یادونې وړ ده چې: د بیت المال یا حکومتي خزانې نیستي یا کمیوت د قین، جزیې او خراج د پیسو څخه شرط دی، نه د عشر او زکاة د پیسو څخه، یعنی که چیري په بیت المال کښې د عشر او زکاة کافي پیسې موجودي وي، د غه پیسې د ضریبې یا ټکس د لګولو مانع نه ګرځي ځکه چې د عشر او زکاة د پیسو خپل مصرف په نص سره معلوم دی، هغه د جهاد په مصارفو یعني: د وسائلو په خریداري یا د مجاهدینو په سفریو کښې مصرفول جواز نه لري.

و كري نهر أي: حفره، غير مملوك من بيت المال، فان لم يكن ثمة اي: في بيت المال شئ يجبر الناس على كريه، ان امتنعوا عنه دفعا للضرر، (في ردالمحتار) قوله: (من بيت المال) ...: أي مال الخراج و الجزية دون العشر والصدقات، لأن الثاني للفقراء، و الأول للنواب، (هداية). قوله (يجبر الناس) أي: الذين يطيقون الكرى و مؤنتهم من مال الاغنياء الذين لايطيقونه. ردالمحتار ج۱۰ص۲۰(۱۶) جلده، طبع: مكتبه سبحانية.

د بیت المال د خالي والي یا کموالي په صورت کښې نه یوازې دا چې د فقه حنفي فقهاوو د ټکس د لګولو اجازه کړې، بلکه د څلورو مذاهبو فقهاء کرامو د جهادي ضرورتونو د پوره کولو لپاره د ټکس او ضریبې د اخستلو جواز ورکړی، چې په لاندې ډول به د مذاهبو د ځینو فقهاء کرامو د فرموداتو څخه په مختصر ډول یادونه وکړو.

في الفقه الحنفي:

وكذا صح ضمان النوائب، جمع نائبة و هي الحادثة، و شرعا: ما يضربه السلطان على الرعية لمصلحتهم، سواء كانت بحق ككري النهر و أجرة الحارس و حفظ الطريق و ابواب السكك. الدر المنتقى في شرح الملتقى على هامش مجمع الأنهر ج۳ص۱۹۷ طبع: المكتبة الغفارية . كوئټه

و أما النوائب فجمع نائبة، و في الصحاح النائبة المصيبة واحدة نوائب الدهر، و في اصطلاحهم قيل أراد بها ما يكون بحق كأجرة الحراس، و كري النهر المشترك و المال الموظف لتجهيز الجيش و فداء الاسارى. بحرائق ج ۶ص ۲۳۸ كتاب الكفالة. فصل ولو اعطى المطلوب الكفيل. طبع: رشيديه كوئټه

النائبة ما يضرب السلطان على الرعية مصلحة لهم يصير دينا واجبا وحقا مستحقا كالخراج وضربة المولى على عبده، و رسول الله امر أهل المدينة: بأن يرد الكفار بثلث ثمار المدينة ثم بنصفها، و كانت ملك الناس، و مع ذالک قطع رأيه دونهم و أمر أصحابه بحفر الخندق حول المدينة و وضع اجر العملة على من قعد. فكذا السلطان، و قال مشائخنا: و كل ما يضرب الامام عليهم لمصلحة لهم فالجواب هكذا، حتى اجرة الحراسين لحفظ الطريق و اللصوص و نصب الدروب و ابواب السكک، وهذا يعرف ولا يعرف خوف الفتنة. فتاوى قنية ص ۱۷۲ كتاب الكراهية والاستحسان. بحواله ټکس اور اسكي شرعي حيثيت ص ۹۴ طبع: الخليل پبلشنګ هاؤس، راولپنډی

ولما كان الامام واعوانه محصورين على حوائج القوم وجب أن مؤنة معاشهم على المدينة، لأنهم اجراء يعملون النافع لها كمثل سائر الأجراء، فاذن لابد من حيازة الأموال من المدينة. البدور البازغة ص ۸۵ للعلامه شاه ولي الله (رحمة الله). بحواله ټکس اور اسكي شرعي حيثيت ص ۹۶ طبع: الخليل پبلشنګ هاؤس، راولپنډی.

و أما النوائب فقد يراد بها ما يكون بحق، و قد يراد بها ما ليس بحق، الأول ككري الأنهار المشتركة و أجر الحارس للمحلة و ما وظف الامام لتجهيز الجيش و فداء الاسارى بأن احتاج الى تجهيز الجيش لقتال المشركين أو الى فداء

أسرى المسلمين ولم يكن في بيت المال مال، فوظف مالا على الناس لذالک، والضمان فيه جائز بالاتفاق لوجوب أدائه على كل مسلم أوجبه الامام عليه، لوجوب طاعته فيما يجب النظر للمسلمين. العناية على هامش فتح القدير ج ۶ ص ۳۲۲ كتاب الكفالة، فصل في الضمان، طبع: مکتبه رشيديه طبع قديم.

و المؤظف لتجهيز الجيش و فداء الاساري و غيرها جازت الكفالة بها بالاتفاق، لأنها واجبة على كل مسلم موسر بايجاب طاعة ولى الأمر فيما فيه مصلحة للمسلمين، و لم يلزم بيت المال أو لزمه، و لاشئ فيه . فتح القدير ج ۶ ص ۳۲۲ كتاب الكفالة، فصل في الضمان.

في الفقه المالكي:

اذا قررنا اماما مطاعا مفتقرا الى تكثير الجنود لسد الثغور وحماية الملك المتسع الاقطار، وخلا بيت المال، و ارتفعت حاجات الجند الى مالا يكفيهم، فللامام اذا كان عدلا أن يوظف على الأغنياء ما يراه كافيا لهم في الحال، الى أن يظهر مال بيت المال، ثم اليه النظر في توظيف ذالک على الغلات والثمار وغير ذالک، كيلا يؤدي تخصيص الناس به ايحاش القلوب، و ذالک يقع قليلا من كثير بحيث لايجحف بأحد و يحصل المقصود... و لو وطئ الكفار أرض الاسلام لوجب القيام بالنصر، و اذا دعاهم الامام وجبت الاجابة، وفيه اتعاب النفوس و تعريضها الى الهلكة، زيادة الى انفاق المال، وليس ذالک الا لحماية الدين و مصلحة المسلمين، فاذا قدرنا هجومهم واستشعر الامام في الشوكة ضعفا وجب على الكافة امدادهم، كيف و الجهاد في كل سنة واجب على الخلق، و انما يسقط باشتغال المرتزقة، فلايتمارى في بذل المال لمثل ذلك. الاعتصام ج ۲ ص ۳۶۹/ ۳۷۰ طبع: دار الحديث، قاهره، مصر.

في الفقه الشافعي:

قال الامام الغزالي: و اذا خلت الأيدى من الأموال، و لم يكن من مال المصالح ما يفي بخراجات العسكر، و خيف من ذالک دخول العدو بلاد الاسلام، أو ثوران الفتنة من قبل أهل الشر، جاز للامام أن يوظف على الاغنياء مقدار كفاية الجند، لأنا نعلم أنه اذا تعارض شران اوضرران، قصد الشرع دفع أشد الضررين و أعظم الشرين، و ما يؤديه كل واحد منهم (اى من الأغنياء) قليل بالاضافة الى ما يخاطر به من نفسه و ماله، لو خلت خطة الاسلام (أى بلاده) من ذي شوكة (أى حاكم قوى) يحفظ نظام الأمور، و يقطع مادة الشرور. المستصفى ج ۱ ص ۳۰۳ بحواله فقه الزكاة ج ۲ ص ۱۱۳۷ مذكوره مطبعه

في الفقه العام:

أوجب الاسلام على المسلمين الاسهام بالانفاق في سبيل الله، و المقصود به الانفاق على كل ما يتطلبه المجتمع من مصالح ضرورية كالدفاع عن البلاد، و تزويد الجيش العامل بالمؤن و السلاح، و بناء المؤسسات الخيرية العامة التى لاغنى لأى بلد متحضر عنها، و للحاكم كيفية تنظيم الحصول على هذه الموارد الكافية لسد العجز في موازنة الخزينة العامة، من طريق وضع نظام ضريبى عادل يلتزم خطة التصاعد بحيث يرتفع سعر الضريبة كلما زاد دخل المكلف، و بحسب درجة الغنى و اليسار، ونص فقهاء الاسلام كالغزالي و الشاطبي و القرطبي على مشروعية طرح الضرائب على الاغنياء، و الغلات و الثمار و غيرها بقدر ما يكفي حاجات البلاد العامة، و أقر ذالک مجمع البحوث الاسلامية في مؤتمر الأول المنعقدة سنة ۱۹۶۴ في قراره الخامس. الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۵۰۰۳ طبع: دار احسان، تهران

و لقد أصبح التسليح و نفقات الجيوش في عصرنا مما يحتاج الى موارد هائلة من المال، و مع هذا لم تعد القوة مقصورة على السلاح و الجيوش، اذ لابد من القوة و التفوق في شتى جوانب الحياة العلمية والصناعية والاقتصادية، و كل هذا

يفتقر الى أمداد غزيرة من المال، و لا سبيل الى ذالک الا بفرض الضرائب باعتبارها نوعا من الجهاد بالمال، ليقوى الفرد أمته، و يحمي دولته، فيقوى بذالک نفسه، و يحمي دينه و دمه و ماله وعرضه. فقه الزكاة للدكتور يوسف القرضاوي ج ۲ ص۱۱۳۹ طبع: مكتبه وهبه، قاهره مصر.

او له ضميمه:

که چیري کوم حکومت د مذکوره شرائطو په موجودګي کښې پر عوامو باندې کوم ټکس و لګوي، د دغه ټکس ورکړه پر عوامو باندې واجب ګرځي او په هیڅ صورت کښې دوی ته د دغه ټکس څخه سرغړونه جواز نه لري، او حکومت کولای سي چي عوام د دغه ټکس په ورکولو باندې مجبور کړي.

و ما وظف الامام لتجهيز الجيش و فداء الاسارى بأن احتاج الى تجهيز الجيش لقتال المشركين أو الى فداء أسرى المسلمين ولم يكن في بيت المال مال. فوظف مالا على الناس لذلک. والضمان فيه جائز بالاتفاق لوجوب أدائه على كل مسلم أوجبه الامام عليه. لوجوب طاعته فيما يجب النظر للمسلمين. العنايه على هامش فتح القدير ج ۶ ص ۳۲۲ كتاب الكفالة فصل في الضمان. طبع: مكتبه رشيديه طبع قديم.

لأنها واجبة على كل مسلم موسر بايجاب طاعة ولي الأمر فيما فيه مصلحة المسلمين. و لم يلزم بيت المال او لزمه و لاشئ فيه. فتح القدير ج ۶ ص ۳۲۲ كتاب الكفالة، فصل في الضمان. طبع: مكتبه رشيديه طبع قديم.

ما يحتاج اليه السلطان لتجهيز الجيش لقتال المشركين اذا أحتاج اليه لفداء اسرى المسلمين، فيوظف عليهم مالا فهي النائبة، و هو واجب الأداء طاعة للامام و صح الضمان به، لأن كل واحد مطالب محبوس به. قال (رحمه الله): فعلى هذا ما يؤخذ في خوارزم من العامة لاصلاح مسناة الجيحون او الربض و نحوه من مصالح العامة دين واجب و حق مستحق لا يجوز الامتناع عن ادائه و ليس بظلم. فتاوى قنيه ص ۱۷۲ كتاب الكراهية و الاستحسان. باب الاستحلال و رد المظالم و الخروج عن عهدتها. بحواله ټکس اور اسکي شرعي حيثيت ص ۹۴ طبع: الخليل پبلشنګ هاوس، راولپنډي.

قال و قال أبو جعفر البلخي ما يضربه السلطان على الرعية مصلحة لهم يصير دينا واجبا و حقا مستحقا كالخراج، و قال مشايخنا و كل ما يضربه الامام عليهم لمصلحة لهم فالجواب هكذا، حتى لحفظ الطريق من اللصوص و نصب الدروب و أبواب السكک ... (هذا) و نحوه من مصالح العامة دين واجبلا يجوز الامتناع عنه و ليس بظلم. رد المحتار ج ۳ ص ۳۲۹ كتاب الزكاة مطلب: هل يجب العشر على المزارعين في الاراضي السلطانية. طبع: مكتبه سبحانيه کوټه.

دوهمه ضميمه:

محصول، ضريبه، او نائبه په نومانو کښې مختلف خو په حقیقت او ماهیت کښې د ټولو وضع د یوه هدف لپاره شرعا سوي دي، هغه هدف دادی چي: کله د اسلامي حکومت بیت المال خالي وي او د مجاهدینو ضروریات نسي پوره کولای په دغه وخت کښې فقهاء کرامو د شرعي اصولو په لحاظولو سره حاکمانو ته د ضرورت په اندازه د ضریبې د مقررولو جواز ورکړی، لکه څرنګه چي د پورتنی استفتاء په جواب کښې د فقهاء کرامو دغه نصوص په تفصیل بیان سوي دي،

که چیري په کوم حالت کي د ضریبې اخستلو ضرورت پیښ سي، د پورتني شرائطو په لحاظولو سره بیا د ضریبې اخستل شرعا جواز لري، کله چي د ضریبې اخستل د ضرورت د وجه څخه جواز پیدا کړي، دغه جواز

يې په ټولو هغو اموالو او شرائطو سره دي چې د ضريبې په را ټولولو کښې اساني پيدا کوي، ځکه چې شرعا يوشی جواز پيدا کوي د توابعو او لوازمو سره په دې وجه جواز پيدا کوي چې بيله لوازمو او توابعو دغه شی قابل د انتفاع نه ګرځي.

استأجر حمّامًا بحدوده فتدخل في العقد توابعه من غير ذكر الحقوق نحو بئر الماء ومسيل ماء الحمّام وموضع سرقينه لأنّه لا ينتفع به بدونه. هندية ج ۴ ص ۴۷۲

ولأبي يوسف أنّ حيّز الشيء في حكم ذلك الشيء لأنّه من توابعه كحريم الدار من توابع الدار حتى يجوز الانتفاع به ولهذا لا يجوز إحياء ما في حيّز القرية لكونه من توابع القرية فكان حقًا لأهل القرية. بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۷۷ كتاب الزكاة فصل: شروط المحلية، طبع: مكتبه حقانيه پشاور.

ولو أوصى له بسرج فله السّرج وتوابعه من اللبد والرفادة والطفر والركابات واللبب في ظاهر الرواية لأنّه لا ينتفع بالسّرج إلا بهذه الأشياء فكانت من توابعه فتدخل في الوصية به.بدائع الصنائع ج ۶ ص ۴۴۵ كتاب الوصايا، فصل ما يرجع الى الموصى به، طبع: مكتبه حقانيه پشاور.

د پورتنيو حوالو په استناد ويېلای سوچي: د ټولو هغو اموالو څخه د ټکس اخستل د پورتنيو شرائطو د موجودتيا په صورت کښې جائز دي چې: مقرره کميسون يې مناسب څومره اندازه و بولي، هغه اموال که په داخل کښې يوې او بلې خواته ځي، يا د داخل څخه خارج ته او يا د خارج څخه داخل ته روان وي، ځکه چې دغه ټول د مسلمانانو اموال دي، بيله ضرورته يې اخستل په هيڅ صورت جواز نه لري، د هري خوا څخه چې روان يا را روان وي، همدا ډول نماينده ګي جوړول و دغه اموالو ته په هرځای کښې چې وي د جواز په صورت کي يې شرعا هيڅ ممانعت نسته، دغه د مرور او عبور اصطلاح د وضعي قوانينو اصطلاح ګاني دي، د شريعت له نظره هيڅ اهميت نه لري.

پای

د افغانستان اسلامي امارت

مرکزي دار الافتاء

نيټه: ۱۱/۲/۱۴۳۸

د افغانستان د اسلامي امارت، په تېره دوره او واکمنۍ کې هم دغه استفتاء سوې ده، د هغه وخت تميز د محکمې غړي او اوس د ستري محکمې رئيس شيخ الحديث والتفسير حضرت مولانا عبدالحکيم صاحب (حفظه الله تعالى) پر نه جواز فتوی ور کړې ده، تاسو يې د فتوی تصوير کتلای سئ.

بسم الله الرحمن الرحيم

الجواب بعون ملهم الصواب

کومې پیسې چه حکومتی خلق په نامه د محصول یا دمالیې د خلقو او دکانداراتو څخه اخلی داشرعي جواز نلری تحوله ظلم دی او نه په شریعت مقدس کی د دغه طریقه د مستفتی یوا صل لری ځکه چه عامه قاعده د فقه حنفی ده چه تصرف السلطان على الرعية منوط بالمصلحة حموی على الاشباه والنظائر ص۳۶۹ ج۱ وهکذا فی شرح المجلة للاتاسی ص۱۴۱ ج۱ وليس للامام ان يخرج شيئا من يد احد الا بحق ثابت معروف ردالمحتار ص۲۸۱ ج۳ وهکذا فی الحموی شرح الاشباه والنظائر ص۲۷۳ ج۱ قوله التصرف على الرعية الخ فيشمل السلطان ومن قلده السلطان بذاته او بالواسطة ويشمل ايضا الاوصياء ومتولی الاوقاف فان جميعهم تناط تصرفاتهم العائدة لمن هم تحت ولايتهم بالمصلحة اى بما فيه نفع بيود اليهم والا فتصرفهم غير صحيح ولا نافذ شرعا الخ شرح المجلة للاتاسی ص۱۴۱ ج۱ دفعل الامام منوط بالمصلحة والظلم ليس بمصلحة شرح المجلة للاتاسی ص۱۳۳ ج۱ وهکذا فی الفقه الاسلامی ص۲۸۰ ج۶ والله اعلم وعلمه اتم واحکم

عبدالحکيم عفى الله عنه

الجواب صحيح
محمد عبد الستار ابن محمد انور عفى الله عنه وعن والديه
۱۳۷۶-۹-۱۷

مولوی محمد اخلاص مرکزی

الاحقر نذا محمد

تحریک اسلامی طلباء افغانستان
ریاست عمومی دار الافتاء مرکزی
امارت اسلامی افغانستان

پای